﴿وَأْمُرْ أَهْلَكَ بِالصَّلَاةِ وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا لَا نَسْأَلُكَ رِزْقًا نَحْنُ نَرْزُقُكَ وَالْعَاقِبَةُ لِلتَّقْوَىٰ﴾ ﴿١٣٢﴾ سورة طه

# د کامل لمونځ اسانه لاربنود

(په دې کتاب کې د لمانځه مسایل، فضایل او پښتو ژباړه، د اودس طریقه، د تیمم او غسل احکام، د جنازې او اخترونو لمونځونه، شپږ کلمې، پینځلس لنډ سورتونه، څلوېښت مسنونې دعاګانې او څلوېښت حدیثونه)

(پینځم چاپ له نویو زیاتونو او سمونو سره)




پښتو PDF کتابونو لپاره موږ درسره وځارئ !
زموږ ټیلګرام چینل لینک 🌐📚👈
https://t.me/AryanPashtoLibrary
واټساپ نمبر:
00971501455350
زموږ فیسبوک پاڼه 👈
آریان پښتو کتابتون



لیکوال: پوهنیار احسان الله ناصح

د ننګرهار پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي استاد

(وَ أْمُرْ اَهْلَكَ بِالصَّلٰوةِ وَ اصْطَبِرْ عَلَيْهَا ؕ لَا نَسْـَٔلُكَ رِزْقًا ؕ نَحْنُ
نَرْزُقُكَ ؕ وَ الْعَاقِبَةُ لِلتَّقْوٰى ﴿۱۳۲﴾) سورة طه

آریان پښتو کتابتون
20 22
+971501455350
ARYAN PASHTO LIBRARY

# د کامل لمونځ اسانه لاربود

(په دې کتاب د لمانځه مسایل، فضایل او پښتو مانا، د اودس طریقه، د تیمم او غسل احکام، د جنازې او اخترونو لمونځونه، شپږ کلیمې، پینځلس لنډ سورتونه، څلوېښت مسنونې دعاګانې او حدیثونه)

لیکوال: پوهنیار احسان الله ناصح
د ننګرهار پوهنتون، د شرعیاتو پوهنځي استاد

پښتو PDF کتابونو لپاره موږ درسره وښاریځ!
زموږ ټیلګرام چینل لینک 🌐📚👇
https://t.me/AryanPashtoLibrary
واټساپ نمبر:
00971501455350
زموږ فیسبوک پاڼه 👇
آریان پښتو کتابتون

بسم الله الرحمن الرحیم

## کتاب پېژندنه

| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | : | **د کامل لمونځ اسانه لاربود** |
| لیکوال | : | **پوهنیار احسان الله ناصح** |
| ډیزاین چارې | : | دیدن ادبي او فرهنګي بهیر - ننګرهار |
| چاپ شمېر | : | ۱۰۰۰ |
| لومړی چاپ | : | ۱۳۹۶ل. کال |
| پینځم چاپ | : | ۱٤۰۰ل. کال / ۲۰۲۱م. کال |
| د خپرونو لړ | : | (۳۸۱) |

۱۳۸۵

## خپرندوی

**ګودر کتاب خپرنځی- ننګرهار**

ګودر کتاب او قرطاسیه پلورځی- لاندېنــــی پوړ،
اسحاقزی مارکېټ، بزازی څلورلارې – جــلال اباد
۰۷۸۹٤۷٤۷۳۰ / ۰۷۹۷۵۰۰۵۰٦ / ۰۷۸۲۵۰۰۹۱٦
meenasadiqs@gmail.com

د بیا چاپ ټول حقوق له خپرنځي سره خوندي دي.

# لیکلړ

موضوع — مخ


اصطلاحات ........ 1
فرض........ 1
فرض په دوه ډوله دي:........ 1
واجب ........ 2
سنت........ 2
سنت په دوه ډوله دي:........ 2
حرام........ 3
مستحب ........ 3
مباح ........ 4
مکروه........ 4
استنجاء........ 5
اودس ........ 7
د اودس طریقه ........ 12
د غسل بیان ........ 13
تیمم ........ 14
د تیمم طریقه ........ 16
د لمانځه بیان ........ 17
لمونځ په چا فرض دی؟........ 17
د لمانځه فرضونه ........ 17
واجبات........ 19
د سهوې سجده........ 20
د لمانځه سنتونه ........ 20
د لمانځه مستحبات........ 22
د لمانځه مکروهات ........ 23
د لمانځه ماتوونکي یا مفسدات........ 25
د لمانځه د اداء کولو طریقه........ 26
د وتر لمانځه د اداء کولو طریقه ........ 28
د لمانځه د اداء کولو تفصیلي عملي طریقه ........ 28
د لمانځه ټکی په ټکی مانا........ 31
د لمانځه وختونه ........ 37
د وتر لمانځه وخت: ........ 38
د اخترونو د لمانځه وخت:........ 39
د تراویح د لمانځه وخت:........ 39
دلمانځه رکعتونه........ 39
د اختر د لمانځه بیان........ 41
د اخترونو خیني مسایل ........ 42
د اختر د لمانځه طریقه........ 43
د جنازې د لمانځه بیان ........ 44
د جنازې د لمانځه حکم:........ 44
د جنازې د لمانځه فرضونه او سنتونه: ........ 44
د جنازې د لمانځه طریقه........ 44
څلوېښت حدیثونه........ 47
څلوېښت (۴۰) مسنونې دعا ګانې ........ 53
شپږ کلمې ........ 62
پینځلس سورتونه........ 64



پښتو PDF کتابونو لپاره موږ درسره وشارئ!
زموږ ټیلګرام چینل لینک https://t.me/AryanPashtoLibrary
واتساپ نمبر: 00971501455350
زموږ فیسبوک پاڼه آریان پښتو کتابتون
آریان پښتو کتابتون ARYAN PASHTO LIBRARY +971501455350 2022

## اصطلاحات

خوږو او زړه ته رانږدې لوستونکیو !

ددې کتاب د لوستلو په وخت کې به ځینې اصطلاحات ستاسې ترسترګو شي چې په فقه کې هغه ځانته ځانګړې مانا لري، نو د فقهې احکامو او مسایلو باندې د پوهېدو لپاره د دغو اصطلاحاتو مفهوم او مطلب باندې پوهیدل ډېر اړین دي، چې دلته به یې بیان کړو.

### فرض

فرض په لغت کې د پرې کولو په مانا سره دي او د شرع په اصطلاح کې هغه فعل ته ویل کېږي چې په پرېکنده دلیل ثابت وي، هیڅ شک او شبه پکې نه وي.

**فرض په دوه ډوله دي:**

۱–فرض عین ۲–فرض کفایه

۱– **فرض عین**: فرض عین هغه ته ویل کېږي چې ترسره کول یې په هر بالغ او عاقل مسلمان ځان ځانته (په انفرادي ډول )لازم وي، هیڅوک یې د بل چا په ځای نه شي تر سره کولای. لکه پنځه وخته لمونځ او روژه.

۲ – **فرض کفایه**: فرض کفایه هغه ته ویل کېږي چې ترسره کول یې په یوه ډله مسلمانانو فرض وي، که څه خلق یې تر سره کړي نو د ټولو غاړه خلاصېږي او که هیچا هم تر سره نه کړ نو ټول ګناهګار دي **لکه** د جنازې لمونځ.

t.me/AryanPashtoLibrary



**د فرضو حکم**:د فرض ترسره کول لازمي دي، ترسره کوونکي ته یې ثواب او پرېښودونکي ته یې عذاب ورکول کېږي.

د فرض څخه منکر کافر ګڼل کېږي.

### واجب

واجب په لغت کې د لازم په مانا دی او په اصطلاح کې هغه فعل ته ویل کېږي چې په داسې شرعي دلیل سره ثابت وي چې په هغه کې لږ څه شک او شبه وي.

**د واجب حکم**: د واجب حکم د فرض په څېر دی یانې په کولو یې ثواب او په پرېښودلو یې عذاب دی خو د واجب څخه منکر کافر نه ګڼل کېږي، منکر یې فاسق او ګمراه دی.

**د واجب مثال**: لکه د اخترونو لمونځونه او د وتر لمونځ.

### سنت

سنت په لغت کې د طریقې او لارې په مانا سره راځي او د شرع په اصطلاح کې هغه فعل ته ویل کېږي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یا صحابه کرامو کړې وي.

**سنت په دوه ډوله دي:**

۱– سنت مؤکد ۲ – سنت غیر مؤکد

**۱ –سنت مؤکد:** هغه سنت ته ویل کېږي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم همیشه کړي وي یو ځل یا دوه ځلې یې پرېښې وي.

**دسنت مؤکد مثال**: په جماعت سره لمونځ کول، اذان.

**د سنت مؤکد حکم:** قصداً پرېښودونکي ته يې شرعاً ملامتيا او ترسره کوونکي ته يې اجر او ثواب ورکول کېږي.

**۲ -سنت غير مؤکد:** هغه سنت ته ويل کېږي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم کله ترسره کړي او کله يې د څه عذر نه پرته پرېښي وي.

د پته سنت زوايد او سنت عاديه هم ويل کېږي.

**د سنت غير مؤکد مثال:** د دوشنبې او پنج شنبې په ورځ روژه نيول، په جامو، خوراک او څښاک کې د رسول الله صلی الله عليه وسلم پيروي کول.

**د سنت غير مؤکد حکم:** ددې سنتو په تر سره کولو ثواب او په نه تر سره کولو يې ملامتيا او عذاب نشته.

## حرام

حرام هغه ته ويل کېږي چې په داسې دليل يې شريعت د نه کولو امر کړی وي چې هيڅ شک او شبه پکې نه وي.

**د حرام مثال:** غلا، شراب، ناحقه د مسلمان وژل، زنا او نور

**د حرام حکم:** د حرامو څخه ځان ساتل لازم او ترسره کوونکی يې د عذاب مستحق دی.

حرامو ته ګناه، قباحت او معصيت هم وايي.

د حرامو څخه منکر کافر بلل کېږي.

## مستحب

هغه کار ته ويل کېږي، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم کله کله تر سره کړی وي او زياتره وخت يې پرېښی وي.



**د مستحب مثال:** د سهار لمونځ لږ څه په روښنايي کې کول.

**د مستحبو حکم:** د مستحب په ترسره کولو سره ثواب او په نه کولو يې څه شرعي ملامتيا او عذاب نشته.

## مباح

هغه روا کار دی چې په کولو کې يې ثواب نشته او په نه کولو کې يې عذاب نشته.

**د مباح مثال:** ښکار کول، خوراک، څښاک

**د مباح حکم:** کولو کې يې ثواب نشته او په کولو کې يې عذاب نشته

## مکروه

مکروه په لغت کې د ناخوښ په مانا سره دی او د شريعت په اصطلاح کې هغه عمل ته ويل کېږي چې په يو خاص دليل يې ناخوښوالی ثابت شوی وي.

**مکروه په دوه ډوله دی:**

۱-مکروه تحريمي. ۲-مکروه تنزيهي.

**۱ -مکروه تحريمي:** مکروه تحريمي هغه ته ويل کېږي، چې شريعت يې په خپلو پيروانو پرېښودل لازمي کړې وي او په داسې دليل ثابت وي، چې لږ څه شک پکې وي.

**د مکروه تحريمي مثال:** د اختر په ورځ روژه نيول، د متيازو په وخت کې قبلې ته مخ کول.

**د مکروه تحريحي حکم:** مکروه تحريمي حرامو ته نږدې دي، نو په ترسره کولو يې عذاب او په نه تر سره کولو کې يې ثواب دی.

t.me/AryanPashtoLibrary

د مکروه تحریمي منکر کافر نه ګڼل کېږي.

**۲ –مکروه تنزیهي:** هغه ته ویل کېږي چې اسلامي شریعت یې له خپلو پیروانو څخه د نه کولو غوښتنه کړې وي خو دغه غوښتنه په حتمي او لازمي بڼه نه وي.

**د مکروه تنزیهي مثال:** په کومو اوبو کې چې پیشو خوله وهلې وي په هغې اودس کول.

**د مکروه تنزیهي حکم:** هغه څوک چې ترې ځان ساتي ثواب ورکول کېږي او څوک چې یې تر سره کوي د شریعت له مخې ملامت دی خو عذاب ورته نشته.

## استنجاء

د ورو متیازو او یا غټو متیازو د حاجت له رفع کولو وروسته د مخصوصه اندامونو پریمنځل او پاکول د استنجاء په نوم یادېږي.

### د قضاء حاجت اداب:

- بیت الخلاء ته د داخلیدو په وخت کې چپه پښه مخکې کول
- له رټل شوي شیطان څخه پناه غوښتنل
- په چپ طرف زور کول
- له اړتیا پرته له خبرو ځان ساتل
- د راوتلو په وخت کې ښی پښه مخکې کول
- مسنونه دعاء لوستل.[1]

[1] د همدې کتاب د مسنونه عاء ګانو په برخه کې بیت الخلاء ته د داخلیدو او راوتلو دعاګانې ذکر دی



### د قضاء حاجت مکروهات

- قبلې ته مخ یا شا کول
- د لمر یا سپوږمۍ سترګې ته مخامخ او باد لږدېدو طرف ته کیناستل
- په سوري یا کلکه ځمکه متیازې کول
- د سیوري لرونکي ونې لاندې متیازې کول
- د عذر پرته په ولاړه متیازې کول
- د عذر پرته د متیازو کولو په وخت کې تولې جامې ویستل
- په ښکاره ځای یا میدان کې کیناستل
- په ولاړو یا روانو اوبو کې متیازې کول

### د استنجاء حکم

- تر هغې چې نجاست له خپل مخرج څخه تجاوز نه وي کړی استنجاء کول سنت دي
- که د یو درهم په اندازه ځای یې پلیت کړی وو نو استنجاء واجب ده
- که له درهم څخه زیات ځای پلیت وو نو بیا استنجاء کول فرض دي.

### د استنجاء سنتونه

- په پاکه تیږه یا لوټه استنجاء
- بیا په اوبو پریمنځل ډېر غوره دي
- په چپ لاس استنجاء کول
- مستحب داده چې درې تېږې استعمال کړل شي که له کاغذ استفاده وشي څه پروا نه کوي.

t.me/AryanPashtoLibrary

## د استنجاء مکروهات

**لاندې شیانو باندې استنجاء کول مکروه دي:**

- په هډوکي
- په سکرو
- په چونې
- په خوراکي شیانو چې انسانان یې خوري
- هغه خوراکي شیان چې حیوانات یې خوري لکه بوس، پاڼې او واښه
- قیمتي او ارزښت لرونکي شیان
- په خوشایو، پچو یا هغو لوټو چې یو ځل پرې استنجاء شوي وي.

## اودس

**د اوداسه تعریف:** اودس له یو خاص نظافت څخه عبارت دی چې د مخ، دواړو لاسونو، دواړو پښو پریمنځل او د سر مسح کول پکې شامل دي.

**اودس د څه شي لپاره فرض دی:**

1. د هر لمانځه لپاره چې مخکنی اودس نه وي که فرض وي یا نفل اودس کول فرض دي
2. د جنازې د لمانځه لپاره چې مخکنی اودس نه وي اودس فرض دی
3. د تلاوت د سجدې لپاره چې مخکنی اودس نه وي فرض دی



### ۱ –د اودس فرضونه

په اودس کې څلور فرضونه دي

1. د ټول مخ پریمنځل د ویښتانو د شنه کیدو نه د زنې لاندې برخې پورې او د یو غوږ له نرمۍ څخه د بل غوږ تر نرمۍ پورې.
2. تر څنګلو پورې د دواړو لاسونو پرېمنځل.
3. د سر څلورمه برخه مسح کول.
4. تر ښنګرو پورې د دواړو پښو پرېمنځل.

### ۲ –د اوداسه سنتونه

په اودس کې دیارلس (۱۳) سنتونه دي

1. د اودس نیت کول
2. د اودس په پیل کې بِسمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِیم ویل
3. د اودس په پیل کې تر مړوندونو پورې د دواړو لاسونو پرېمنځل
4. درې ځلې په خوله کې اوبه اچول.
5. مسواک وهل.
6. درې ځلې پوزې ته اوبه اچول.
7. ږیره خلالول
8. د پښو او لاسونو د ګوتو خلالول.
9. ټول سر مسح کول
10. د سر په اوبو د دواړو غوږونو مسح کول.
11. هر اندام درې ځلې پریمنځل
12. په ترتیب سره د اندامونو پریمنځل

13. لومړی ښی او بیا چپ اندام پریمنځل
14. د یو غړي پسې بل غړی مسلسل پریمنځل چې یو غړی وچ شوي نه وي بل ورپسې پریمنځل شي.

### ۳ –د اودس اداب یا مستحبات:

د اودس څوارلس (۱۴) اداب دي چې د اودس کولو په وخت کې يې په نظر کې نیول پکار دي:

1. د اودس لپاره په لوړ ځای کیناستل
2. قبلې ته مخامخ کیناستل
3. له بل چا مرسته نه غوښتل
4. د نیوي خبرو نه ځان ساتل
5. د زړه او خولې نیت یو کول
6. مأثورې دعاګانې لوستل
7. د هر اندام د پرېمنځلو په وخت کې بِسم الله الرَّحْمَن الرَّحِيمِ ويل.
8. د غوږونو سوريو کې ګوته وهل
9. که ګوتمه په لاس وي د هغې خوځول
10. په ښي لاس خولې او پوزې ته اوبه اچول او په چپ لاس د پوزې سونړ کول
11. له وخت نه مخکې اودس کول
12. له اودس وروسته د شهادت کلمې ويل
13. له اودس څخه زياتې شوې اوبه په ولاړه څکل



14. د اودس په پای کې (اللّٰهُمَّ اجْعَلْنِي مِنَ التَّوَّابِينَ وَاجْعَلْنِي مِنَ الْمُتَطَهِّرِينَ) دعاء ويل.

### ۴ –د اودس مکروهات

**د اودس مکروهات شپږ دي**

1. په ناپاک ځای کې اودس کول
2. زياتې او يا له اندازې لږ اوبه مصرفول
3. په زوره مخ ته اوبه ورويشتل
4. بې ځايه خبرې کول
5. له عذر پرته له بل چا مرسته غوښتل
6. په تازه اوبو درې ځلې مسح کول.

### ۵– د اودس ماتوونکي

د اودس ماتونکي شيان پنځلس دي:

1. د تشو يا ډکو متيازو له لارې د څه شي وتل
2. د بدن څخه په داسې ډول د وينې وتل چې له خپل ځای نه حرکت وکړي
3. په ډکه خوله کانګې (قی) کول
4. په لاړو کې په داسې شکل د وينې راتلل چې وينه له لاړو زياته او يا هم ورسره برابره وي
5. له خوند پرته د مني وتل
6. د ښځې له سينې له شيدو پرته نور څه راوتل

7. له ښځې د استحاض وينه راوتل
8. د مذي يا ودي وتل
9. په کوم شي چې غسل لازميږي اودس هم پرې ماتيږي
10. په خوب کولو سره
11. بې هوشه کيدلو سره
12. نېشه کيدو سره
13. ليوني کيدو سره
14. په لمانځه کې په قهقهه (په زوره) خندا کولو سره
15. له پردې پرته په شهوت د نر او ښځې د جنسي غړو له يوځای کيدو سره.

### ٦ -هغه شيان چې اودس پرې نه ماتيږي:

د لس شيانو په ترسره کولو باندې اوس نه ماتيږي

1. د زخم نه وينه راتلل په داسې ډول چې له خپل ځای نه حرکت ونه کړي
2. د بدن نه د غوښې ټوټه پريوتل چې وينه ورسره لاړه نه شي
3. له پوزې، غوږ يا زخم څخه د چنجي پريوتل
4. د تناسلي آلې لمس کول
5. د خپلې ښځې لمس کول
6. هغه کانګې چې په ډکه خوله نه وي
7. په لمانځه کې ويده کيدل
8. د جنازې لمانځه کې په زوره خندل
9. په داسې خوب چې څه شي ته تکيه نه وي شوې
10. په تبسم يا په سپک اواز خندل



## د اودس طريقه

د اودس کولو طريقه داسې ده چې:

په يوه پاک لوښي کې به پاکې اوبه راواخلې او په لوړ پاک ځای کې به مخامخ قبلې ته کينې، لستونې به له څنګلو پورته کړې، بسم الله الرحمن الرحيم به ووايې او درې ځلې به تر مړوندونو پورې لاسونه پريمنځې، بيا درې ځلې خولې ته اوبه واچوه او مسواک ووهه که مسواک نه وو نو د شهادت ګوته استعمال کړه، بيا درې ځلې پوزې ته اوبه واچوه چې نرمې برخې د پوزې ته ورسيږي په چپ لاس پوزه سونړ او پاکه کړه، درې ځلې مخ ته اوبه واچوه د سر د ويښتانو له شنه کيدو د زنې لاندې هډوکي او له يو غوږ نرمۍ څخه د بل غوږ تر نرمۍ پورې مخ پريمنځه، بيا دواړه لاسونه تر څنګلو چې څنګلي هم ورسره دي درې ځلې پريمنځه، بيا تازه اوبه رواخله او يو ځل د سر مسح وکړه له همدې سره غوږونه او څټ هم مسح کړه بيا درې، درې ځلې ښۍ او چپه پښه تر ښنګرو پورې ووينځه کهپه لوته کې اوبه پاتې وې په ولاړه يې وڅښه او دا دعاګانې ووايه

(أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ)

(اللَّهُمَّ اجْعَلْنِي مِنْ التَّوَّابِينَ وَاجْعَلْنِي مِنْ الْمُتَطَهِّرِينَ)

# د غسل بیان

**د غسل پېژندنه:** غسل په لغت کې پرېمنځلو ته وايي او په اصطلاح کې د شريعت د ښودل شوي طريقې سره سم د حکمي نا پاکۍ د لرې کولو يا د ثواب حاصلولو په موخه د ټول بدن پرېمنځل د غسل په نوم يادېږي.

## د غسل فرضونه

په غسل کې درې فرايض دي:

1. د خولې پرېمنځل (په داسې ډول چې ستونې ورسره لوند شي).
2. د پوزې پرېمنځل.
3. د ټول بدن پرېمنځل (په داسې ډول چې دويښته په اندازه ځای وچ پاتې نه شي).

## د غسل سنتونه

په غسل کې يوولس سنتونه دي:

1. په پيل کې بسم الله الرحمن الرحيم ويل
2. نيت کول
3. تر مړوندونو د لاسونو پرېمنځل
4. د فرج (مخصوصه اندام) پرېمنځل
5. که د بدن په کوم ځای نجاست وي هغه پرېمنځل
6. اودس کول
7. که د غسل اوبه يې پښو سره جمع کېږي پښې تر ټولو وروسته پرېمنځل
8. په ټول بدن درې وارې اوبه تېرول



9. له سر څخه د غسل شروع کول
10. بيا ښی اوږه او بيا چپه اوږه پرېمنځل
11. د بدن مږل (موښل)

## د غسل مستحبات

1. په داسې ځای کې غسل کول چې هلته پرده وي
2. په پاک ځای کې لامبل
3. د اوبو په استعمال کې اسراف او کمې نه کول
4. په ناسته غسل کول
5. قبلې ته مخ کولو څخه ډډه کول

## د غسل مکروهات

1. بربنډ (لوڅ) غسل کول
2. بې ځايه خبرې کول
3. بې ځايه زياتې اوبه استعمالول

# تيمم

تيمم په لغت کې قصد، ارادې او عزم کولو ته وايي او په اصطلاح کې له حکمي نجاست څخه د پاکوالي په نيت خاورې ته قصد کول دي.

**تيمم په کومو صورتونو کې جايز دی**

1. چې اوبه د يو ميل په اندازه لرې وي
2. د اوبو په خوا کې دښمن يا کوم ضرري حيوان وي
3. د کوهي رسۍ يا بوکه نه وي

4. که ښځه کور کې وي له کوره په وتلو او اوبو راوړلو کې يې د عزت او ابرو خطر وي
5. اوبه وي خو د څکلو يا پښلي لپاره بس کېږي
6. اوبه وي خو په يقيني ډول غير صحي وي
7. اوبه وي خو په ګران قيمت خرڅېږي
8. سړي سره د اوبو د اخيستلو توان نه وي
9. د جنازې، اخترونو يا خسوف او کسوف د لمانځه د تلو ويره وي
10. که څوک په طياره، ريل ګاډي يا بل شي کې سفر کوي او هغه سورلۍ اوبو ته نه ودرېږي
11. سړی مريض وي او د اوبو په استعمال سره د مرض د زياتوالی ويره وي

## د تيمم فرضونه

په تيمم کې دوه فرضونه دي

- نيت کول
- دوه ځلې په ځمکه لاسونه وهل يو ځل د مخ بل ځل د لاسونو لپاره

## د تيمم سنتونه

1. په پيل کې بسم الله الرحمن الرحيم ويل
2. ترتيب مراعت کول
3. په پاکه خاوره د لاسونو ورغوي وهل
4. کم تر کمه په دريو ګوتو د مخ او لاسونو مسح کول
5. په خاوره دلاسونو وهلو وروسته څنډ ورکول
6. د ګوتو خلالول



## تيمم په څه شي کېږي

په پاکه خاوره او هغه شيان چې د خاورې له جنس څخه وي تيمم پرې کېږي.لکه رانجه، چونه، خښته، ديوال او داسې نور.

## د تيمم طريقه

لستوني به راپورته کړي، لومړی به نيت وکړي په داسې ډول سره چې تيمم کوم چې پاک شميا تيمم کوم چې لمونځ راته روا شي. بيا به دواړه لاسونه په ځمکه ووهي راپورته به يې کړئ او څنډ يې وهه چې ګرد ترې لرې شي ددې لپاره چې مخ بدرنګه نه کړي بيا به يې په مخ راکش کړي په داسې ډول چې هيڅ ځای پاتې نه شي.

بيا به دويم ځل لاسونه په ځمکې ووهي او څنډ به ورته ورکړي په چپ لاس به ښی لاس تر څنګل پورې مسح کړي او په ښي لاس به چپ لاس تر څنګل پورې مسح کړي بيا به ددواړو لاسونو ګوتې په يوبل کې وردننه کړي که ګوتمه يا ساعت دې په ګوته يا په لاس وي هغه به وښوروي.

د بې اودسۍ، جنابت، حيض او نفاس تيمم کې هيڅ توپير نشته، تر هغې چې دې اوبه نه وي موندلي تيمم کوه اګر که هر څومره زياته موده وي.

t.me/AryanPashtoLibrary

# د لمانځه بیان

**د لمانځه تعریف:**

لمونځ هغه بدني عبادت دی چې په ځانګړو اقوالو او افعالو مشتمل، په تکبیر تحریمه پیل او په سلام سره پای ته رسیږي.

د لمانځه د شرایطو او ارکانو تعلیم قرآن کریم ورکړی او تفصیلي طریقه یې رسول الله صلی الله علیه وسلم په وینا او عمل سره ښودلې ده.

**لمونځ په چا فرض دی؟**

هغه څوک چې پنځه شرایط پکې پوره شي لمونځ ورباندې فرض کیږي چې عبارت دي له:

- اسلام
- بلوغ
- عقل
- د ښځې لپاره د حیض او نفاس څخه پاکوالی
- وخت موندل

**د لمانځه فرضونه**

**د لمانځه فرضونه په دوه ډوله دي (۱)شرطونه (۲)رکنونه**

(۱) د لمانځه شرطونه: د لمانځه شرطونه اوه داني دي:

1. د بدن پاکوالی
2. د جامو پاکوالی



3. د لمانځه د ځای پاکوالی
4. د عورت پټول
5. وخت پیژندل
6. نیت کول
7. قبلې ته مخ کول

**حکم**: که چا له دې اوه شیانو څخه یو شی پریښودلو قصداً وي او که په سهوې سره لمونځ یې نه کیږي.

**(۲) د لمانځه ارکان**: د لمانځه له ارکانو څخه هدف هغه فرضونه دي چې د لمانځه په داخل کې دي.

د لمانځه ارکان شپږ داني دي:

1. د لمانځه د پیل (الله اکبر) ویل یانې تکبیر تحریمه
2. په ولاړه لمونځ کول (قیام)
3. قرائت کول
4. رکوع کول
5. سجده کول
6. اخره قعده

**حکم**: چا چې له دې شپږو شیانو څخه یو شی قصداً یا سهواً پریښودلو لمونځ یې نه کیږي او بیا به له سره لمونځ راګرځوي.

t.me/AriyanPashtoLibrary

## واجبات

د لمانځه له واجباتو څخه هدف هغه کارونه دي چې په لمانځه کې یې اداء کول ضروري دي:

په لمانځه کې دیارلس(۱۳) شیان واجب دي:

1. د فرض لمونځونو په دوه اولنیو او د نورو لمونځونو په ټولو رکعتونو کې د الحمدلله لوستل
2. د فرض لمونځ په دوه اولنیو او نورو ټولو لمونځونو کې له الحمدلله سره د سورت لوستل
3. په هر رکعت کې اول د الحمد لله لوستل
4. د لمانځه د ارکانو ترمنځ ترتیب ساتل
5. له رکوع څخه د راپورته کیدو وروسته سم درېدل(قومه کول)
6. د دواړو سجدو ترمنځ په ارام کیناستل (جلسه کول)
7. د ارکانو تعدیل (په سکون او اطمینان سره یې کول)
8. اوله قعده
9. په دواړه قعدو کې تشهد لوستل
10. د امام لپاره په هغو لمونځونو کې چې په لوړ غږ پکې قرآت لوستل کېږي په لوړ غږ او په هغو لمونځونو کې چې په پټه قرآت لوستل کېږي په پټه قرآت لوستل
11. په (السلام علیکم ورحمة الله )سره لمونځ ختمول
12. په وترو کې د قنوت لپاره تکبیر ویل او ددعاء لوستل
13. په دواړو اخترونو کې زواید تکبیرونه ویل.



**د واجباتو حکم**: له چا څخه چې په لمانځه کې سهواً واجب پاتې شول د سهوې سجده پرې لازم ده او که چا قصداً کوم واجب پرېښود لمونځ یې له نقصان سره پوره شو بیا راګرځول یې ورباندې نشته.

## د سهوې سجده

سجده سهوه په لاندې طریقې سره اداء کېږي

- په اخره قعده کې تشهد لوستل
- بیا ښي لورته سلام ګرځول
- په اطمینان سره دوه سجدې کول
- له سجدو وروسته تشهد ته کیناستل او تر (وقنا عذاب النار ) پورې یې لوستل
- بیا دواړو لوریو ته سلام ګرځول

## د لمانځه سنتونه

په لمانځه کې(۲۱ )شیان سنت دي

هغه اعمال کوم چې دلمانځه پر مهال رسول الله صلی الله علیه وسلم تر سره کړي وي، که څه هم د دغو کارونو نه ترسره کول د لمانځه د فساد سبب نه ګرځي خو تر سره کول یې اجر او ثواب لري.

1. د لومړي تکبیر سره سم د غوږونو تر نرمیو د دواړو لاسونو پورته کول

2. د لاسونو د پورته کول په وخت کې ګوتې خلاصې پرېښودل او د ورغويو مخ قبلې ته کول
3. د تکبير تحريمه ويلو وخت کې سر نه ټيټول
4. د تکبير تحريمه وروسته نارينه وو لپاره تر نامه لاندې او ښځينه وو لپاره په سينه لاسونه کېښودل
5. ښی لاس په چپ لاس د پاسه کېښودل
6. دامام لپاره ټول تکبيرونه په لوړ اواز ويل
7. سبحانک اللهم لوستل
8. اعوذبالله لوستل
9. په هر رکعت کې له الحمدلله نه مخکې بسم الله ويل
10. د فرض لمانځه په وروستيو دوه رکعتونو کې الحمدلله ويل
11. د فاتحې له ختميدو وروسته په پټه آمين ويل
12. سبحانک اللهم، اعوذبالله او بسم الله په پټه ويل
13. سنت قرآت کول
14. په رکوع او سجده کې درې درې ځلې تسبيح ويل
15. سجده کې اول دواړه زنګنونه بيا لاسونه بيا پوزه او بيا تندی په ځمکه لږول
16. په قومه کې د امام لپاره د سمع الله لمن حمده او مقتدي لپاره ربنالک الحمد ويل، او ځانته لمونځ کوونکي ته دواړه ويل
17. په جلسه او قعده دواړو کې چپه پښه څملول په هغې کيناستل او ښی پښه داسې ودرول چې د ګوتو سرونه يې د قبلې طرف ته وي، بيا دواړه لاسونه په زنګنونو اېښودل.



18. په تشهد کې د(لااله )ويلو سره د شهادت ګوته پورته کول
19. په اخره قعده کې له تشهد وروسته درود لوستل
20. د درود وروسته (اللهم ربنا اتنا )دعاء لوستل
21. لومړی ښي او بيا چپ لور ته سلام ګرځول

**حکم**: که چا له دې شيانو څخه څه شی پرېښودلو هيڅ ورباندې نه دي لازم سهواً وي او که قصداً.

## د لمانځه مستحبات

په لمانځه کې شپږ (۶) شيان مستحب دي

1. د څادر يا لستونو څخه د تکبير په وخت کې د لاسونو راويستل
2. د قيام په حالت کې د سجدې ځای ته کتل، د رکوع په حالت کې پښو ته کتل، د سجدې په وخت کې د پوزې نرميو ته کتل، په قعده کې سينې ته کتل، د سلام ګرځولو په وخت کې اوږې ته کتل
3. د توان تر اندازې د ټوخې بندول
4. د اسويلي په وخت کې د خولې بندولو کوښښ کول
5. د اقامت په وخت کې د (حی علی الفلاح) په ويلو سره لمانځه ته درېدل
6. د(قد قامت الصلوة) په وخت کې د امام له خوا تکبير ويل

**حکم**: د پورته شيانو په ترسره کولو اجر او په نه کولو سره يې ګناه نشته.

## د لمانځه مکروهات

په لمانځه کې څلويښت (۴۰) مکروهات دي

1. د واجب يا سنت عمل قصداً پريښودل
2. په جامه يا بدن لوبې کول
3. د تيږو اړول مگر يو ځل د سجدې لپاره
4. له گوتو څخه تقونه ويستل يا په يو بل کې د گوتو ننويستل
5. د سپي په څېر د څنگلو غځول
6. په اشارې سره د سلام ځواب ورکول
7. بې له عذره پلتۍ وهل
8. په اوږه يا په سر د جامې راځوړندول
9. د چا طرف ته لمونځ کول
10. په صف کې د خالي ځای موجودوالي کې شاته ځانته دريدل
11. د قيام په حالت کې قرآت نه پوره کول
12. ستر گې پټول
13. په فرض لمانځه کې بې ترتيبه قرآت کول
14. د سجدې په وخت کې دواړه پښې په ځان پسې را اوچتول
15. په لمانځه کې په گوتو د اياتونو، سورتونو او تسبيحاتو شميرل
16. ستوماني ويستل
17. چپ يا ښي لور ته د ځټ کږول
18. د ډکو يا تشو متيازو د ضرورت يا د لوږې په وخت کې لمونځ کول
19. په خوله کې داسې شی اچول چې د قرآت مخنيوي هم ونه کړي
20. د گرد څخه د مخنيوي لپاره د جامو څنډل



21. د سر يا ږيرې ويښتانو سره لوبې کول
22. قصداً اسويلی کول
23. په محراب کې د امام ډېر دننه درېدل
24. په لوړ ځای يوازې د امام درېدل
25. د پرنجي په راتلو د توان با وجود د پرنجي نه درول
26. اسويلي کول
27. په لمانځه کې د آسمان په طرف کتل
28. د ښنگرو څخه پايڅې ښکته کول
29. د توان سره سره يوازې پرتوگ کې لمونځ کول
30. په داسې ځای کې لمونځ کول چې هلته سپی يا تصوير وي
31. له اول رکعت څخه دويم رکعت اوږدول
32. دويم رکعت کې د لومړي رکعت د سورت څخه مخکې سورت لوستل
33. يو شی بويول
34. په لمانځه کې د خولې يا پوزې پټول
35. د کار و بار جامو کې لمونځ کول
36. د پگړۍ په ول لمونځ کول
37. له تندې څخه د خاورو پاکول
38. د يو معلوم سورت هر وخت لوستل
39. د ويښتانو غوټه کول
40. د سپږو رانيول او وژل

**حکم**: د لمانځه د مکروهاتو سره لمونځ نه ماتېږي خو ځان ساتل ترې پکار دي، تر څو يې اجر نور هم زيات او د قبول وړ وگرځي.

## د لمانځه ماتوونکي یا مفسدات

- خبرې کول
- قرآن کریم ته په کتو تلاوت کول
- د لمانځه له شرایطو د کوم شرط پرېښودل
- د لمانځه له ارکانو څخه د کوم رکن پاتې کېدل
- د لمانځه له واجباتو کوم شی په قصد سره پرېښودل
- پرنجي کوونکي ته ځواب ورکول
- د بالغ سړي په لوړ غږ خندا کول
- له عذر پرته د مرۍ صفا کول
- د درد یا غم له امله ژړل یا (أف، أف) کول
- خوراک کول
- عمل کثیر کول
- قدمونه اخیستل
- د قرآن په تلاوت کې داسې غلطي کول چې په مانا کې تغیر راشي
- له دیوال یا کاغذ څخه لیکلې شی په ژبه لوستل
- له خپل امام پرته بل چا ته فتحه ورکول
- په یوه ګډ لمانځه کې د ښځې او نر برابر درېدل
- تیمم لرونکي شخص او به لیدل
- د غم د خبر په اورېدو سره (انالله وانا الیه راجعون) ویل
- د تعجب خبر باندې (سبحان الله) ویل
- د قبلې نه له عذر پرته د سینې ګرځول
- لیونتوب یا بې هوښه کېدل

**حکم**: که د لمانځه له ماتونکو شیانو څخه کوم کار چا ترسره کړ لمونځ یې نه کېږي او بیا راګرځول یې ورباندې لازم دي



## د لمانځه د اداء کولو طریقه

کله دې چې د لمانځه اراده وکړه او ښه مطمئن شوې، چې دلمانځه له شرایطو څخه هیڅ شی نه دی پاتې، قبلې ته به مخامخ ودرېږې، نیت به وکړې (نیت د زړه ارادې ته وایي)، دواړه لاسونه به تر غوږونو اوچت کړې ورسره به یو ځای (الله اکبر) ووایې.

بیا به لاسونه د نامه نه لاندې وتړې (سبحانک اللهم) به ووایې، که ځانته دې لمونځ کولو، نو (اعوذبالله) او (بسم الله) به ووایې، که په جمعه لمونځ کوې (اعوذ بالله) او (بسم الله) به یوازې امام وایي.

بیا به (الحمد لله) ووایې کله چې الحمد لله ختمه شوه، آمین به ورپسې په پټه ووایې، بیا چې کوم سورت درته اسانه وي، هغه به ولولې: خو له درې ورو ایاتونو یا یو لوی ایت څخه به کم ایاتونه - نه وایې.

له دې وروسته به (الله اکبر) ویلو سره رکوع ته لاړ شې، درې ځلې به (سبحان ربي العظیم) ووایې. بیا به (سمع الله لمن حمده) ویلو سره له رکوع پورته شې او (ربنا ولک الحمد) به هم ووایې. که امام پسې ولاړ وې، ته به یوازې (ربنا ولک الحمد) ووایې.

له دې وروسته به د (الله اکبر) په ویلو سره سجدې ته لاړ شې، د دواړو ورغویو منځ کې به سر کېږدې، پوزه او تندی به په ځمکه ولږوې، پښې به ځان پسې نه راجګوې، څنګلې به په ځمکه لکه ګیدړ نه غوړوې، ګیډه به له زنګنونو څخه لرې وساتې، بیا به درې ځلې (سبحان ربي الاعلی) ووایې، بیا به راپورته شې، چپه پښه به څملوې

پرې کېنه او ښې پښه ودروه دا یوه سجده شوه، په همدې ترتیب به بله سجده هم وکړې، چې له دویمې سجدې راپورته شوې، نو یو رکعت پوره شو.

چې دویم رکعت ته پورته کېږې، نېغ به پورته شې، کېنې به نه، کله چې دویم رکعت شروع کوې، د لومړي رکعت په څېر به لاسونه وتړې (سبحانک اللهم) او (اعوذبالله) به نه وایې، له (بسم الله) به پیل وکړې او د هماغه لومړي رکعت په څېر به ټول اقوال او افعال ترسره کړې، کله چې د دویم رکعت دواړه سجدې ترسره کړې، نو تشهد ته به کېنې، که دوه رکعاتي لمونځ و (التحیات لله) درود او (اللهم ربنا) به تر اخېره ولولې سلام به وګرځوې او دوه رکعته لمونځ دې پوره شو.

که څلور رکعتي لمونځ وي نو (التحیات لله) به تر (عبده ورسوله) پورې ووایې او د (الله اکبر) په ویلو سره به درېیم رکعت ته پورته شې، د دویم رکعت په څېر به یې له (بسم الله) پیل کړې که فرض لمونځ وو په درېیم رکعت کې سورت مه وایه که سنت یا نفل یا هم وتر واجب وو بیا به سورت ووایې کله چې دې سجدې وکړې په درې رکعتیز لمانځه کې به تشهد ته کېنې او (التحیات لله) درود او (اللهم ربنا) به تر اخره ولولې سلام به وګرځوې که چېرته دې لمونځ څلور رکعتي وو نو بیا په درېیم رکعت مه کینه له سجدو وروسته د (الله اکبر) له ویلو سره سم ودرېږه له (بسم الله) رکعت پیل کړه او د درېیم رکعت په څېر ټول اقوال او افعال ترسره کړه له دوه سجدو ترسره کولو وروسته تشهد ته کېنه او (التحیات لله) درود او (اللهم ربنا) تر اخره ولوله سلام به وګرځوې په دې سره دې څلور رکعته لمونځ پوره شو.



## د وتر لمانځه د اداء کولو طریقه

د عام لمانځه په څېر دې چې کله دوه رکعته پوره کړه بیا به درېیم رکعت ته د (الله اکبر) په ویلو سره پورته شې د (بسم الله) (الحمد لله) او سورت وروسته به (الله اکبر) په ویلو سره دواړه لاسونه تر غوږونو پورې پورته کړې بیا به لاسونه د نامه څخه لاندې وتړې او دعاء قنوت به ووایې له دې وروسته رکوع ته لاړ شه بیا سجدې او ورپسې به تشهد ته کېنې او (التحیات لله) درود او (اللهم ربنا) به تر اخره ولولې سلام به وګرځوې.

## د لمانځه د اداء کولو تفصیلي عملي طریقه

لومړی به نیت وکړې، بیا به لاسونه د غوږونو تر نرمیو پورې پورته کړې او و به وایې:

**الله اکبر.**

**سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ وَتَبَارَكَ اسْمُكَ وَتَعَالَى جَدُّكَ وَلَا إِلَهَ غَيْرُكَ.**

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ (1) الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ (2) مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ (3) إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ (4) اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ (5)

صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ (6). آمين

قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ (1) اللَّهُ الصَّمَدُ (2) لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ (3) وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ (4)

**بيا به رکوع ته ټيټ شي د ټيټېدو په وخت کې ووايه:**

الله أكبر.

**په رکوع کې ووايه:**

سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيمِ، سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيمِ، سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيمِ

**له رکوع نه به پورته شي او ووايه!**

سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ او بيا ورپسې رَبَّنَا وَلَكَ الحَمْدُ.

**اوس به سجدې ته لاړ شي او ووايه !**

الله أكبر

سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعْلَى، سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعْلَى، سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعْلَى

**له سجدې سر پورته کړه او ووايه** : الله أكبر

**بيا سجدې ته سر ښکته کړه او ووايه!**

سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعْلَى ، سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعْلَى، سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعْلَى

**له سجدې سر پورته کړه او ووايه**: الله أكبر.



نبغ دويم رکعت ته پورته شه ! د دويم رکعت د شروع په وخت کې به يوازې (بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ) ووايې او له فاتحې نه به شروع وکړې، ټول دويم رکعت به د تېر رکعت په څېر وکړې، کله چې دې له دويمې سجدې سر را پورته کړ نو تشهد ته به کېنې او دغه کلمات به او دعاګانې به ووايې:

التَّحِيَّاتُ لِلَّهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ السَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ السَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللَّهِ الصَّالِحِينَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ.

اللَّهُمَّ بَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ.

رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ.

اوس به لومړۍ ښي طرف ته سلام وګرځوې:

السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللَّه

او بيا به چپ طرف ته سلام وګرځوې !

السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللَّه

# د لمانځه ټکی په ټکی مانا

## اللّٰهُ أَكْبَرُ

الله جل جلاله ډېر لوی دی

### ثناء

| سُبْحَانَكَ | اللّٰهُمَّ | وَبِحَمْدِكَ | وَتَبَارَكَ |
|---|---|---|---|
| پاکي ده تا لره | ای الله جل جلاله | سره د ثنا ستا | او برکتناک دی |
| اسْمُكَ | وَتَعَالَى | جَدُّكَ | وَلَا إِلَهَ غَيْرُكَ |
| نوم ستا | او لوړ دی | شان ستا | نشته لایق د عبادت پرته له تانه |

### تعوذ

| أَعُوذُ | بِاللّٰهِ | مِنَ الشَّيْطَانِ | الرَّجِيمِ |
|---|---|---|---|
| پنا غواړم زه | په الله پوري | له (شر د ) شیطان | رټل شوي څخه |

### تسمية

| بِسْمِ | اللّٰهِ | الرَّحْمَنِ | الرَّحِيمِ |
|---|---|---|---|
| په نوم | د الله | چې ډېر مهربان | ډېر زیات بښونکی دی |



### الفاتحة

| الْحَمْدُ | لِلّٰهِ | رَبِّ | الْعَالَمِينَ |
|---|---|---|---|
| ټول ثنا او صفت | خاص الله لره دی | چې پالونکی | د ټولو مخلوقاتو دی |
| الرَّحْمَنِ | الرَّحِيمِ | مَالِكِ | يَوْمِ |
| چې ډېر زیات مهربانه | ډېر زیات رحم لرونکی دی | واکدار | د ورځې |
| الدِّينِ | إِيَّاكَ | نَعْبُدُ | وَإِيَّاكَ |
| د جزا دی | خاص تا لره | موږ عبادت کوو | او خاص ستا څخه |
| نَسْتَعِينُ | اهْدِنَا | الصِّرَاطَ | الْمُسْتَقِيمَ |
| موږ مرسته غواړو | وښایه موږ ته | لاره | برابره |
| صِرَاطَ | الَّذِينَ | أَنْعَمْتَ | عَلَيْهِمْ |
| لاره | د هغو کسانو | چې تا انعام کړی | په هغوی باندې |
| غَيْرِ | الْمَغْضُوبِ | عَلَيْهِمْ | وَلَا الضَّالِّينَ |
| نه (لاره د هغو کسانو ) | چې غضب کړی شوی | په هغوی | او نه لاره د ګمراهانو |

آمين

الله دغه دعاء زموږ قبوله کړه !

## د اخلاص سورت

| | | | |
|---|---|---|---|
| قُلْ | هُوَ | اللَّهُ | أَحَدٌ |
| ووایه(دوی ته ای محمده) | شان دادی | الله چې دی | یو دی |
| اللَّهُ | الصَّمَدُ | لَمْ يَلِدْ | وَلَمْ يُولَدْ |
| الله | بې نیازه دی | نه ترې څوک زیږدلی | او نه له چا زیږدلی |
| وَلَمْ يَكُنْ | لَهُ | كُفُوًا | أَحَدٌ |
| او نشته | ده لره | سیال | هیڅوک |

### د رکوع تسبیحات

| | | |
|---|---|---|
| سُبْحَانَ | رَبِّيَ | الْعَظِيمِ |
| پاکي ده | رب زما لره | چې ډېر لوی دی |

### د قومې تسمیع

| | | | |
|---|---|---|---|
| سَمِعَ | اللَّــهُ | لِمَنْ | حَمِدَهُ |
| واورېده | الله جل جلاله | دهغه چا(ستاینه) | چې د هغه ستاینه یې وکړه |

### د قومې تحمید

| | | |
|---|---|---|
| رَبَّنَا | وَلَكَ | الْحَمْدُ |
| ای ربه زموږ! | او تا لره | ستاینه ده |

### د سجدې تسبیحات

| | | |
|---|---|---|
| سُبْحَانَ | رَبِّيَ | الْأَعْلَى |
| پاکي ده | رب زما لره | چې ډېر اوچت دی |



## تشهد

| | | | |
|---|---|---|---|
| التَّحِيَّاتُ | لِلَّهِ | وَالصَّلَوَاتُ | وَالطَّيِّبَاتُ |
| ټول قولي عبادات | خاص الله لره دي | او ټول بدني عبادات | او ټول مالي عبادات |
| السَّلَامُ | عَلَيْكَ | أَيُّهَا النَّبِيُّ | وَرَحْمَةُ اللَّهِ |
| سلام دې وي | پر تا | ای پیغمبره | او رحمت د الله |
| وَبَرَكَاتُهُ | السَّلَامُ | عَلَيْنَا | وَعَلَى |
| او برکتونه د الله | سلام دې وي | په موږ | او په |
| عِبَادِ | اللَّهِ | الصَّالِحِينَ | أَشْهَدُ |
| بنده ګانو | د الله | نیکانو | زه ګواهي وایم |
| أَنْ لَا إِلَهَ | إِلَّا اللَّهُ | وَأَشْهَدُ | أَنَّ |
| چې نشته لایق د عبادت | مګر یو الله دی | او زه ګواهي وایم | چې بیشکه |
| مُحَمَّدًا | عَبْدُهُ | وَرَسُولُهُ | |
| محمد ﷺ | د هغه بنده | او د هغه استازی دی | |

## درود

| | | | |
|---|---|---|---|
| اللَّهُمَّ | صَلِّ | عَلَى مُحَمَّدٍ | وَعَلَى آلِ |
| ای ربه | درود ولیږه | په محمد ﷺ | او په اولادې د |
| مُحَمَّدٍ | كَمَا | صَلَّيْتَ | عَلَى إِبْرَاهِيمَ |
| محمد ﷺ | لکه څرنګه | چې تا درود لیږلی | په ابراهیم |
| وَعَلَى آلِ | إِبْرَاهِيمَ | إِنَّكَ حَمِيدٌ | مَجِيدٌ |
| او په اولادې د | ابراهیم | بیشکه ته ستایلی | د لویې خاوند یې |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | شوی | |
| اللّٰهُمَّ | بَارِكْ | عَلٰى مُحَمَّدٍ | وعَلٰى آلِ |
| ای ربه | برکت ولیږه | په محمد ﷺ | او په اولادې د |
| مُحَمَّدٍ | كَمَا | بَارَكْتَ | عَلٰى إِبْرَاهِيمَ |
| محمد ﷺ | لکه څرنګه | چې تا برکت کړی | په ابراهیم |
| و عَلٰى آلِ | إِبْرَاهِيمَ | إِنَّكَ حَمِيدٌ | مَجِيدٌ |
| او په اولادې د | ابراهیم | بیشکه ته ستایلی شوی | د لویی خاوند یې |

## د درود وروسته دعاء

| | | | |
|---|---|---|---|
| اللّٰهُمَّ | رَبَّنَا | آتِنَا | فِي الدُّنْيَا |
| ای ربه | پالونکی زموږ | راکړه موږ ته | په دنیا کې |
| حَسَنَةً | وَفِي الْآخِرَةِ | حَسَنَةً | وَقِنَا |
| نیکي | او په اخرت کې | نیکي | او وساتې موږ |
| عَذَابَ | النَّارِ | | |
| له عذابه | د اور | | |

## سلام

| | | | |
|---|---|---|---|
| السَّلَامُ | عَلَيْكُمْ | وَرَحْمَةُ | اللهِ |
| سلام دې وي | پر تاسې | او رحمت | د الله |

## له سلام وروسته دعاء

| | | | |
|---|---|---|---|
| اللّٰهُمَّ | أَنْتَ | السَّلَامُ | وَمِنْكَ |
| ای ربه | ته چې یې | له عیوبو پاک یې | او له تا څخه |
| السَّلَامُ | تَبَارَكْتَ | يَا ذَا الْجَلَالِ | وَالْإِكْرَامِ |
| سلامتیا ده | برکت ناک یې ته | ای د جلال | او عزت خاونده |



## د عاء قنوت

| | | | |
|---|---|---|---|
| اللّٰهُمَّ | إِنَّا | نَسْتَعِينُكَ | وَنَسْتَغْفِرُكَ |
| یا الله | بیشکه موږ چې یو | ستا څخه مرسته غواړو | او ستا څخه بښنه غواړو |
| وَنُؤْمِنُ بِكَ | وَنَتَوَكَّلُ | عَلَيْكَ | وَنُثْنِي |
| او په تا ایمان ته دوام ورکوو | او موږ توکل کوو | په تا باندې | او ثنا وایو |
| عَلَيْكَ | الْخَيْرَ | وَنَشْكُرُكَ | وَلَا نَكْفُرُكَ |
| په تا | د خیر او غوره والي | او ستا شکر کوو | او ستا ناشکري نه کوو |
| وَنَخْلَعُ | وَنَتْرُكُ | مَنْ يَفْجُرُكَ | اللّٰهُمَّ |
| او موږ جدا کیږو | او پریږدو | هغه خوک چې ستا نافرماني کوي | یا الله |
| إِيَّاكَ | نَعْبُدُ | وَلَكَ | نُصَلِّي |
| خاص تا ته | موږ عبادت کوو | او تا له | موږ لمونځ کوو |
| وَنَسْجُدُ | وَإِلَيْكَ | نَسْعَى | وَنَحْفِدُ |
| او سجده کوو | او ستا طرف ته | موږ کوښښ کوو | او په خوشالی ستا عبادت کوو |
| نَرْجُو | رَحْمَتَكَ | وَنَخْشَى | عَذَابَكَ |
| موږ هیله لرو | ستا د رحمت | او ویریږو موږ | ستا له عذاب څخه |
| إِنَّ | عَذَابَكَ | بِالْكُفَّارِ | مُلْحِقٌ |
| بیشکه | عذاب ستا | په کافرانو باندې | پیوست کیدونکی دی |

## د لمانځه وختونه

د لومړي ځل لپاره د هجرت نه مخکې د معراج په شپه په اسمان کې الله جل جلاله په اسلامي امت باندې لمونځ فرض کړ.

د لمانځه لپاره پنځه وختونه ټاکل شوي دي چې هر لمونځ په خپل وخت کې ادا کول فرض عين دی.

- د سهار لمونځ
- د ماسپښين لمونځ
- د مازديګر لمونځ
- د ماښام لمونځ
- د ماسختن لمونځ

وختونه يې:

**د سهار وخت**: د سهار وخت د رښتيني سبا د راختلو څخه پيل کېږي او د لمر راختلو څخه لږ مخکې وخته پورې دوام کوي چې نږدې يو نيم ساعت وخت لري.

**د ماسپښين وخت**: د ماسپښين وخت په غرمه کې د لمر د زوال(کږېدو) څخه پيل کېږي، او تر هغې دوام کوي تر څو چې د هر شي سيوری د اصلي سيوري سربيره دوه برابره شي.

په ژمي کې د ماسپښين لمونځ په وخت کول او د اوړي په موسم کې يې لږ وروسته کول مستحب دي.

د جُمعې د لمانځه وخت هم د ماسپښين وخت دی خو د جُمعې لمونځ په هر موسم اول وخت کې ادا کول بهتر دي.



**د مازديګر وخت**:

د مازديګر د لمانځه وخت د ماسپښين لمانځه د وخت له ختميدو سره سم شروع کېږي او د لمر پريوتلو نه لږ مخکې وخت پورې دوام کوي.

د مازديګر لمونځ بايد داسې وخت کې اداء کړل شي چې لمر روښانه وي او د لمر تر زيړ والي پورې پرينښودل شي کله چې لمر زيړ شي نو بيا لمونځ کول مکروه دي.

خو که کله له چا څخه د لمر تر زيړ والي وروسته شي پرېښودل يې جايز نه دي په همدې وخت کې دې اداء کړل شي.

**د ماښام وخت**:

د ماښام د لمانځه وخت د لمر له يقيني پريوتلو څخه وروسته شروع کېږي او په اسمان کې د شفق (سوروالي) تر ختميدو پورې دوام کوي چې دا تقريباً څه د پاسه يو ساعت وخت برابرېږي، خو په اول وخت کې يې اداء کول غوره او مستحب دي.

**د ماسخوتن وخت**:

د ماښام له لمانځه څخه يو نيم ساعت وروسته د ماسخوتن د لمانځه وخت پيل کېږي يانې د ماسخوتن د لمانځه وخت په اسمان کې د شفق (سوروالي) له ختميدو څخه پيل او د سهار له راختلو څخه لږ مخکې وخت پورې دوام کوي.

**د وتر لمانځه وخت:**

د ماسخوتن له لمانځه وروسته وتر لمونځ اداء کېږي، خو که څوک د شپې لمانځه(تهجد) د اداء کولو لپاره راپاڅېږي نو د هغه لپاره د شپې په اخره برخه کې وتر اداء کول مستحب دي.

**د اخترونو د لمانځه وخت:**

کله چې لمر د يوې نېزې په اندازه را وخيژي رڼا يې خپره او ژيړوالی يې ختم شي نو د اخترونو د لمانځه وخت شروع کېږي او د لمر تر زوال پورې دوام کوي، د اخترونو لمونځونه ژر اداء کول مستحب دي.

د اختر د لمانځه لپاره اذان او اقامت نشته.

**د تراويح د لمانځه وخت:**

د تراويح د لمانځه وخت د رمضان المبارک په شپو کې د ماسخوتن د فرض لمانځه له اداء کولو نه وروسته د سهار له راختلو نه لږ مخکې وخت پورې دی.

## دلمانځه رکعتونه

**د سهار لمونځ:**

د سهار لمونځ څلور رکعته دی، لومړی دوه رکعته سنت او بيا دوه رکعته فرض دي.

په احاديثو کې د سهار د سنتو ډېر تأکيد راغلی، اګر که د نورو سنتو تأکيد هم شوی دی؛ خو د دې تأکيد له نورو زيات دی.

**د ماسپښين لمونځ:**

د ماسپښين لمونځ لس رکعته دی، لومړی څلور رکعته سنت مؤکد په يو سلام، بيا څلور رکعته فرض بيا دوه رکعته سنت مؤکد دي.

**د مازديګر لمونځ:**

د مازديګر لمونځ څلور رکعته دی چې ټول فرض دي، چې اول دوه رکعته يې ډک او وروستني دوه رکعته يې تش اداء کېږي



**د ماښام لمونځ:**

د ماښام لمونځ پنځه رکعته دی، چې لومړی درې رکعته فرض او بيا دوه رکعته يې سنت دي.

**د ماسخوتن لمونځ:**

د ماسخوتن لمونځ نهه رکعته دي، چې لومړی څلور رکعته فرض بيا دوه رکعته سنت او بيا درې رکعته وتر واجب دي.

**د فرضو دوه وروستني رکعتونو تش او د وتر واجب په دريم رکعت کې له الحمدلله او سورت وروسته دعاء قنوت لوستل کېږي .**

د روژې په مياشت کې د ماسخوتن د فرض او سنتو څخه وروسته (شل) رکعته تراويح اداکېږي چې د دوه، دوه رکعتونو لپاره په يو ځل نيت تړل کېږي.

## د اختر د لمانځه بیان

**مسلمانان په کال کې دوه اخترونه لري:**

**۱ – کوچني اختر:**

د روژې د میاشتې له پای ته رسیدو وروسته د شوال د میاشتې په لومړۍ نېټه مسلمانان کوچنی اختر لمانځي.

دا په اصل کې د هغې ربښتیني خوشالۍ څرګندونه ده چې خدای تعالی خپلو بنده ګانو ته د روژې میاشت کې، روژه، تراویح، د قرآن کریم تلاوت، صدقه، خیرات او داسې نور عبادتونه ټاکلي وو او هغه یې په سمه توګه د خپل رب د امر سره سم ترسره کړل نو ځکه پرې خوشالي کوي.

کوچني اختر دوه ورځې دوام کوي.

**۲ –لوی اختر (د قرباني اختر):**

دغه اختر د هجري قمري کال د ذوالحجې میاشتې په لسمه نېټه لمانځل کېږي.

دا اصلاً د هغې قربانۍ یادګار دی چې حضرت ابراهیم علیه السلام او حضرت اسماعیل علیه السلام د الله تعالی حضور ته وړاندې کړې وه.

لوی اختر درې ورځې دوام کوي.



**د اخترونو ځینې مسایل**

۱–د اختر په ورځ دوه رکعته لمونځ کول واجب دي

۲–د اختر لمونځ په عیدګاه کې تر سره کېږي، خو د ضرورت په اساس په مسجد کې هم اداء کیدلای شي.

۳–د اخترونو د لمونځونو لپاره نه اذان شته او نه اقامت.

۴–که چا څخه د اختر د لمانځه جمعه تیره شوه نو بیا راګرځول یې ورباندې نشته.

۵–د اختر خطبه ویل سنت او اوریدل یې واجب دي.

۶–د اختر خطبه د اختر له لمانځه وروسته ویل سنت دي.

۷–د ذوالحجې د میاشتې په نهم، لسم، یوولسم، دولسم او دیارلسم تاریخ مازیګر پورې د هر فرض لمانځه نه سمدستي وروسته یو ځل د تشریق تکبیرونه ویل واجب دي، چې ټول درویشت وخته لمونځونه کېږي.

۸- د تشریق تکبیرونه دا دي:اَللّٰهُ أَكْبَرُ اللّٰهُ أَكْبَرُ , لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰـهُ وَاللّٰهُ أَكْبَرُ , اللّٰهُ أَكْبَرُ وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ.

۹–که د امام نه د تکبیر ویل هیر شي نو مقتدیانو ته پکار ده چې تکبیرونه ویل شروع کړي.

۱۰–د کوچني اختر په ورځ عیدګاه ته له تګ مخکې خوراک کول سنت دي.

۱۱–د لوی اختر په ورځ د اختر لمانځه پورې خوراک نه کول سنت دي

## د اختر د لمانځه طریقه

لومړی به نیت وکړي (نیت د زړه د ارادې نوم دی) په داسې ډول سره چې نیت مې کړی دزړه له اخلاصه دوه رکعته واجب د اختر لمونځ کوم سره د شپږواړه تکبیرونو اقتداء مې وکړه دې امام پسې خاص ربه تالره، مخ مې د کعبې شریفې په لوري - بیا دواړه لاسونه د غوږو تر نرمیو ورسوه او (اللّٰهُ أَكْبَرْ) ووایه، بیا دې لاسونه د نامه نه لاندې وتړه (سبحانک اللهم) ووایه

بیا به درې ځلې امام تکبیر وایي، ته به هم ورسره تکبیر وایې، هر ځل تکبیر سره به د غوږونو تر نرمیو لاسونه اوچتوې او څوړند به یې پریږدې، له دریم تکبیر وروسته به لاسونه د نامه نه لاندې وتړې.

امام به قرآت ووایي، بیا به رکوع او سجده ورسره وکړې او دویم رکعت ته به له امام سره یوځای راپورته شې.

په دویم رکعت کې به امام قرآت وکړي، بیا رکوع ته له تلو مخکې درې تکبیرونه وایي، ته به هم ورسره تکبیرونه ووایې او لاسونه به د غوږونو ترنرمیو رسوې، هر ځل به له تکبیر وروسته لاسونه څوړند نیسې، په څلورم ځل تکبیر ویلو سره به رکوع ته لاړ شې.

سجده به وشي بیا قاعده (تشهد)، (درود) او له درود وروسته دعاء ویل کېږي، بیا به د امام سره یوځای سلام وګرځوې.

په دې سره د اختر دوه رکعته واجب لمونځ اداء شو، بیا به امام خطبه ووایي ته به ورته چپ ناست وې او په غور به یې اورې.



## د جنازې د لمانځه بیان

د جنازې لمونځ د ښېنونکي الله جل جلاله څخه د مړي لپاره د ښښنې دعا غوښتل دي.

**د جنازې د لمانځه حکم:**

د جنازې لمونځ فرض کفایه دي، فرضیت یې له قرآن کریم او احادیثو څخه ثابت دی منکر یې کافر ګڼل کېږي.

**د جنازې د لمانځه فرضونه:**

**د جنازې په لمانځه کې دوه فرضونه دي**

۱- څلور ځله تکبیر (اللّٰهُ أَكْبَر) ویل.

۲- قیام کول (بې له عذر نه په ناسته د جنازې لمونځ کول روا نه دي).

**د جنازې د لمانځه سنتونه:**

د جنازې په لمانځه کې درې سنتونه دي:

۱- د الله جل جلاله حمد او ثنا ویل.

۲- په رسول الله ﷺ درود ویل.

۳- د مړي لپاره دعا کول.

### د جنازې د لمانځه طریقه

د جنازې د لمانځه سنت طریقه داده چې مقتدیان درې صفونه ودرول شي، که خلک زیات وي نو صفونه دې زیات جوړ شي خو د صفونو شمیر دې طاق وي، مړی دې د صفونو مخې ته کېښودل شي او امام به د مړي سینې په مقابل کې ودرېږي ټول خلک به د جنازې نیت وکړي،

بیا به د (الله اکبر) ویلو سره دواړه لاسونه د غوږونو تر نرمیو پورې اوچت کړي او د نورو لمونځونو په څېر دې یې د نامه لاندې وتړي او ثنا به وو ایي داسې چې:

سُبْحَانَكَ اللَّـــهُمَّ وَبِحَمْدِكَ وَتَبَارَكَ اسْمُكَ وَتَعَالَى جَدُّكَ وَلَا إِلَهَ غَيْرَكَ.

د (سُبْحَانَكَ اللَّـــهُمَّ) نه وروسته به بیا تکبیر(الله اکبر) وو ایي خو لاسونه به نه پورته کوي، بیا دې درود شریف وو ایي:

(اللَّـــهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ، وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ، اللَّـــهُمَّ بارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا بَارَكْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ، وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ)

بیا به دریم تکبیر(الله اکبر) وو ایي لاسونه به یې هماغسې تړلي وي او د مړي لپاره به دعا وغواړي

**که مړی بالغ و، نو دا دعا به وو ایي:**

اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِحَيِّنَا وَمَيِّتِنَا وَشَاهِدِنَا وَغَائِبِنَا وَصَغِيرِنَا وَكَبِيرِنَا وَذَكَرِنَا وَأُنْثَانَا، اللَّهُمَّ مَنْ أَحْيَيْتَهُ مِنَّا فَأَحْيِهِ عَلَى الإِسْلَامِ، وَمَنْ تَوَفَّيْتَهُ مِنَّا فَتَوَفَّهُ عَلَى الإِيمَانِ.

یاني:(یا الله ! زموږ ژوندیو ، زموږ مړو او هغو خلکو ته چې حاضر دي او هغو خلکو ته چې غائب دي، زموږ ماشومانو زموږ غټانو ، زموږ



نارینه وو او زنانه وو ته بښنه وکړه، یا الله په موږ کې چې چا ته ژوند ورکوې نو په اسلام کې یې ژوندی وساته او له موږ څخه چې څوک مړ کوې له ایمان سره مرګ ورکړه.)

له دې وروسته به څلورم تکبیر(الله اکبر) وو ایي لاسونه به نه پورته کوي له څلورم تکبیر سره به دواړو خواوو ته سلام وګرځوي(السَّـــلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُالله) سلام دې وي پر تاسې او رحمت د الله.

(امام به تکبیرونه په لوړ اواز او مقتدیان به یې له ځان سره په پټه وایي).

**د نابالغ مړي دعا:**

که مړی نابالغ هلک وي، دا دعا به وایي: اللَّهُمَّ اجْعَلْهُ لَنَا فَرْطًا، وَاجْعَلْهُ لَنَا أَجْرًا وَذُخْرًا، وَاجْعَلْهُ لَنَا شَافِعًا ومُشَفَّعًا.

یاني: (یا الله دغه ماشوم زموږ د خوشالۍ لپاره مخکښې وګرځوه، دغه هلک زموږ لپاره اجر او ذخیره وګرځوه او دغه هلک زموږ لپاره داسې سفارش کوونکی وګرځوه چې سفارش یې قبول کړای شوي وي.)

**که مړی نابالغه نجلۍ وي نو دا دعا به وایي:**

اللَّهُمَّ اجْعَلْهَا لَنَا فَرْطًا، وَاجْعَلْهَا لَنَا أَجْرًا وَذُخْرًا، وَاجْعَلْهَا لَنَا شَافِعَةً و مُشَفَّعَةً.

یاني: (یا الله دغه ماشومه زموږ د خوشالۍ لپاره مخکښنه وګرځوه، دغه جلۍ زموږ لپاره اجر او ذخیره وګرځوه او دغه جلۍ زموږ لپاره داسې سفارش کوونکې وګرځوه چې سفارش یې قبول کړای شوي وي.)

# څلوېښت حدیثونه

**فضیلت یې:** رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: زما له امت څخه چې چا څلوېښت حدیثونه یاد کړل، جنت ته به داخل شي ؛ او الله جل جلاله به یې د قیامت په ورځ د پیغمبرانو او علماوو په صف کې راپورته کړي.

(١)إِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ .متفق عليه

ژباړه:بیشکه عملونه په نیتونو پورې تړلي دي.

(٢) لاَ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ قَتَّاتٌ.متفق عليه

ژباړه: جنت ته به داخل نه شي چغل گر(ددوه کسانو په منځ کې شیطاني کوونکی)کس.

(٣) لاَ يَحِلُّ لِمُسْلِمٍ أَنْ يُرَوِّعَ مُسْلِمًا.ابوداود

ژباړه: مسلمان ته روا نه ده چې بل مسلمان وډار کړي.

(٤) لاَ تَأْذَنُوا لِمَنْ لَمْ يَبْدَأْ بِالسَّلاَمِ.بيهقي

ژباړه: هغه چاته اجازه مه ورکوئ چې خپلې خبرې په سلام اچولو پیل نه کړي.

(٥) كُنْ فِي الدُّنْيَا كَأَنَّكَ غَرِيبٌ أَوْ عَابِرُ سَبِيلٍ. بخاري

ژباړه:په دنیا کې داسې اوسېږه لکه مسافر یا په لاره تېرېدونکی.



(٦)خَالِفُوا الْمُشْرِكِينَ وَفِّرُوا اللِّحَى وَأَحْفُوا الشَّوَارِبَ.متفق عليه

ژباړه: د مشرکانو مخالفت وکړئ، ږیرې خوشې کړئ او بریتونه ښه کم کړئ.

(٧) مَنْ كَفَّ غَضَبَهُ, كَفَّ اَللّٰهُ عَنْهُ عَذَابَهُ. الطبراني

ژباړه: چا چې خپله غوسه بنده کړه الله جل جلاله به ترې خپل عذاب بند کړي

(٨)لاَ تَجْلِسُوا عَلَى الْقُبُورِ وَلاَ تُصَلُّوا إِلَيْهَا. مسلم

ژباړه: په قبرونو باندې مه کېنئ او مه د هغې طرف ته لمونځ کوئ.

(٩) لاَ تَسُبُّوا الأَمْوَاتَ فَإِنَّهُمْ قَدْ أَفْضَوْا إِلَى مَا قَدَّمُوا.الْبُخَارِى

ژباړه: مړو ته کنځلې مه کوئ ؛ بیشکه دوی هغه څه ته ور رسیدلي چې وړاندې یې لیږلي.

(١٠) لاَ يَرْحَمُ اللّٰهُ مَنْ لاَ يَرْحَمُ النَّاسَ. متفق عليه

ژباړه: الله جل جلاله په هغه چا باندې رحم نه کوي څوک چې په خلکو رحم نه کوي.

(١١)الظُّلْمُ ظُلُمَاتٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. متفق عليه

ژباړه: ظلم به د قیامت په ورځ تیاروي.

(١٢) الْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ.متفق عليه

ژباړه: کامل مسلمان هغه څوک دی چې نور مسلمانان یې د ژبې او لاس له ضرر څخه په امن وي.

(۱۳) لَيْسَ الشَّدِيدُ بِالصُّرَعَةِ، إِنَّمَا الشَّدِيدُ الَّذِي يَمْلِكُ نَفْسَهُ عِنْدَ الغَضَبِ.متفق عليه.

ژباړه: پهلوان هغه څوک نه دی چې په مقابله کې تکړه وي ؛ بيشکه پهلوان هغه څوک دی چې د غوسې په وخت کې خپل ځان کنټرول کړي.

(۱۴)مَنْ رَغِبَ عَنْ سُنَّتِي فَلَيْسَ مِنِّي . بخاري

ژباړه: چا چې زما له سنتو څخه اعراض وکړ هغه زما څخه نه دی.

(۱۵)مَنْ غَشَّنَا فَلَيْسَ مِنَّا.مسلم

ژباړه: چا زموږ سره دوکه وکړه هغه زموږ له ډلې څخه نه دی.

(۱۶)مَنْ صَلَّى عَلَيَّ وَاحِدَةً، صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ عَشْرًا. مسلم

ژباړه: چا چې په ما باندې يو ځل درود ووايه الله جل جلاله به پرې لس رحمتونه راولېږي.

(۱۷) مَنْ يُرِدِ اللهُ بِهِ خَيْرًا يُفَقِّهْهُ فِي الدِّينِ.بخاري

ژباړه: چاته چې الله جل جلاله د خير اراده وکړي په دين کې پوهه ورنصيب کوي.

(۱۸)مَنِ ادَّعَى مَا لَيْسَ لَهُ فَلَيْسَ مِنَّا وَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ.مسلم

ژباړه: چا چې په داسې شي دعوه وکړه چې د هغه نه وي ؛ نو دغه کس زموږ له ډلې څخه نه ی او ځان ته دې په دوزخ کې ځای تيار کړي.



(۱۹)إِذَا سَرَّتْكَ حَسَنَتُكَ، وَسَاءَتْكَ سَيِّئَتُكَ فَأَنْتَ مُؤْمِنٌ.مسند احمد

ژباړه:کله چې دې خپله نيکي خوشاله او بدي دې خفه کړي نو ته مؤمن يې.

(۲۰) إِذَا أَتَاكُمْ كَرِيمُ قَوْمٍ فَأَكْرِمُوهُ.ابن ماجه

ژباړه: کله چې د يو قوم عزتمند سړی درته راشي نو عزت يې وکړئ.

(۲۱) لاَ يُلْدَغُ الْمُؤْمِنُ مِنْ جُحْرٍ وَاحِدٍ مَرَّتَيْنِ.متفق عليه

ژباړه: مسلمان له يوه سوري څخه دوه ځلې نه چيچل کېږي

(۲۲)إِذَا وُسِّدَ الأَمْرُ إِلَى غَيْرِ أَهْلِهِ فَانْتَظِرِ السَّاعَةَ . بخاري

ژباړه: کله چې کارنا اهل شخص ته وسپارل شي نو د قيامت انتظار کوه.

(۲۳)مَنْ كَرِهَ مِنْ أَمِيرِهِ شَيْئًا فَلْيَصْبِرْ .متفق عليه

ژباړه:چا له خپل امير(مشر) څخه کوم ناخوښه کار وليد نو صبر دې پرې وکړي.

(۲۴)أَحَبُّ الأَعْمَالِ إِلَى اللَّهِ أَدْوَمُهَا وَإِنْ قَلَّ. متفق عليه

ژباړه: الله جل جلاله ته ډېر خوښ عملونه هغه دی چې هميشه وي(تل ترسره شي) اګر که لږ هم وي.

(۲۵)إِذَا لَمْ تَسْتَحِي فَاصْنَعْ مَا شِئْتَ. بُخَارِی

ژباړه: کله چې دې حيا ونه کړه پس څه چې دې خوښه وي کوه يې.

(۲۶)لاَ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ قَاطِعٌ . متفق عليه

ژباړه:خپلوي پرېکوونکی به جنت ته داخل نه شي.

(۲۷)لا يَدْخُلُ الجَنَّةَ مَنْ لاَ يَأمَنُ جَارُهُ بَوَائِقَهُ . متفق عليه

ژباړه: هغه څوک به جنت ته داخل نه شي چې ګاونډی یې له شر او ضرر څخه په امن نه وي.

(۲۸)يَدُ اللّهِ عَلَى الْجَمَاعَةِ فَاتَّبِعُوا السَّوَادَ الْأَعْظَمَ.مستدرک

ژباړه: دخدای جل جلاله مرسته او رحمت له ډلې سره دی ؛ پس تاسې د لویې ډلې پیروي او ملګرتیا وکړئ.

(۳۰) الدُّنْيَا سِجْنُ الْمُؤْمِنِ وَجَنَّةُ الْكَافِرِ.مسلم

ژباړه: دنیا د مؤمن لپاره زندان او د کافر لپاره جنت دی.

(۳۱)لاَ يَحِلُّ لِمُسْلِمٍ أَنْ يَهْجُرَ أَخَاهُ فَوْقَ ثَلاَثَةِ أَيَّامٍ.متفق عليه

ژباړه: مسلمان ته روا نه دی چې له درې ورځو نه زیات د خپل مسلمان ورور سره تعلق پرې کړي.

(۳۲)مَنْ نَفَّسَ عَنْ مُؤْمِنٍ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ اَلدُّنْيَا, نَفَّسَ اَللَّهُ عَنْهُ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ يَوْمِ اَلْقِيَامَةِ.مسلم

ژباړه: چا له یو مؤمن څخه دنیوي مصیبت لیرې کړ ؛ الله جل جلاله به ترې د قیامت د ورځې له مصیبتونو څخه یو مصیبت لیرې کړي.

(۳۳)مَنْ دَلَّ عَلَى خَيْرٍ, فَلَهُ مِثْلُ أَجْرِ فَاعِلِهِ . مُسْلِم

ژباړه: چا چې د نیک کار ښودنه وکړه، ده ته به یې د ترسره کوونکي په اندازه اجر او ثواب دی.



(۳۴)سِبَابُ اَلْمُسْلِمِ فُسُوقٌ, وَقِتَالُهُ كُفْرٌ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ژباړه: مسلمان ته کنځلې کول فسق او وژل یې کفر دی.

(۳۵) اَلْمُؤْمِنُ مِرْآةُ اَلْمُؤْمِنِ .ابوداود.

ژباړه: مؤمن د بل مؤمن لپاره ښیښه ده.

(۳۶) إِذَا ضَرَبَ أَحَدُكُمْ, فَلْيَتَجَنَّبِ اَلْوَجْهَ.مسند احمد

ژباړه: کله چې یو له تاسې څخه څوک وهي نو په مخ د وهلو څخه دې ځان وساتي(په مخ به یې نه وهي).

(۳۷)إِنَّمَا الْأَعْمَالُ بِالْخَوَاتِيمِ . بخاري

ژباړه: بیشکه د عملونو وروستي وختونه د اعتبار وړ دي(اخره خاتمه د اعتبار وړ ده).

(۳۹) عَمُّ الرَّجُلِ صِنْوُ أَبِيهِ .ترمذي

ژباړه: بیشکه د سړي تره(کاکا) د هغه د پلار په څېر دی.

(۴۰) رِضَى الرَّبِّ فِي رِضَى الْوَالِدِ وَسَخَطُ الرَّبِّ فِي سَخَطِ الْوَالِدِ. ترمذي.

ژباړه: د پلار (او مور)په خوښۍ کې د الله جل جلاله خوښې نغښتې او د پلار(او مور) په غوسه کې د الله جل جلاله غوسه نغښتې ده.

# خلوېښت (۴۰) مسنونې دعا ګانې

## د ویده کیدو په وخت کې

(۱) اللَّهُمَّ بِاسْمِكَ أَمُوتُ وَأَحْيَا .بخاري

ای الله ! ستا په نوم مړ (ویده) کیږم او بیا را ژوندی (راویښ) کیږم.

## له خوب څخه د را پورته کېدو دعاء

(۲)الحَمْدُ لله الَّذِي أَحْيَانا بَعْدَ مَا أَمَاتَنَا وإِلَيْهِ النُّشُورُ.متفق‌علیه

ټولې ستاینې هغه خدای لره دي چې له مړینې وروسته یې بیا موږ راژوندي کړو او هغه ته ورګرځېدل دي.

## د نویو جامو د اغوستلو دعا

(۳) اللّهُمَّ لَكَ الحَمْدُ أَنْتَ كَسَوتَنيه، أَسْأَلك مِنْ خَيرِهِ وخَيْرِ ما صُنع لَهُ، وأَعُوذُ بِكَ مِنْ شرِّه وشَرِّ ما صُنِعَ لَهُ. ابوداود

ای الله تا لره ستاینه ده تا راته دا جامې را واغوستلې. له تا څخه د هغې خیر غواړم او د هغه څه خیر درڅخه غواړم چې دا جامې ورته جوړ شوي دي ؛ او له تا څخه د هغې د بدې او د هغه څه له بدی، چې دا ورته جوړې شوي پنا ه غواړم.

## چاته د نویو جامو د مبارکۍ دعا

(۴) تُبْلي ويُخْلِفُ اللهُ تَعَالَى.ابوداود

دا جامې دې درباندې زړې کړلې شي، او الله دې ددې بدله درکړي یا دا دعاء ورته ووایه.



(۵) إلبسْ جَدِيداً وعِشْ حَمِيداً ومُتْ شَهِيداً.متفق علیه

همیشه نوې جامې واغوندې، ښکلی ژوند ولرې او د شهادت مرګ دې نصیب شه.

## بیت الخلاء ته د داخلېدو دعا

(۶) اللهُمَّ إِنّي أعُوذُ بِكَ مِنَ الخُبُثِ والخبائِثِ» . متفق علیه

ای ربه ! پناه غواړم په تا پورې له ښځینه او نارینه شیطانانو څخه.

## له بیت الخلاء د را وتلو دعا

(۷)غُفْرانَكَ. د سنن پنځه واړه کتابو روایت کړی.

الهي ! له تا بښنه غواړم.

## یا دا دعا ووایه

(۸)الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِى أَذْهَبَ عَنِّى الأَذَى وَعَافَانِى.سنن ابي داود

ثنا او ستاینه هغه ذات لره ده چې له ما څخه یې ضرر رسوونکي شیان لرې کړل او ماته یې عافیت را په برخه کړ.

## له کور څخه د وتلو دعا

(۹)اللّهُمَ إِنّي أَعُوذُ بِكَ أَنْ أَضِلَّ أَوْ أُضَلَّ أَوْ أَزِلَّ، أَوْ أُزَلَّ، أَوْ أَظْلِمَ أَوْ أُظْلَمَ، أَوْ أَجْهَلَ أَوْ يُجْهَلَ عَلَيَّ.ترمذي او ابن ماجه

ای ربه ! پناه غواړم په تا پورې چې خپله لاره ورکه کړم یا راباندې بل څوک لاره ورکه کړي یا دا چې دوکه شم یا مې بل څوک دوکه کړیپا په چا ظلم وکړم یا راباندې څوک ظلم وکړي، یا د ناپوهی سره مخ شم او یا ماسره د ناپوهی کړنه ترسره شي.

**کور ته د ننوتلو دعا**

(۱۰) بِسْمِ اللهِ وَلَجْنَا، وَبِسْمِ اللهِ خَرَجْنَا، وَعَلَى رَبِّنَا تَوَكَّلْنَا.

سنن ابي داود

د الله جل جلاله په نوم ننوتلو، د الله جل جلاله په نوم ووتلو او په خپل پالونکي موږ توکل وکړو.

**مسجد ته د ننوتلو دعا**

(۱۱)اللّٰهُمَّ افْتَحْ لِيْ أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ . صحيح مسلم

ای ربه ! د خپل رحمت دروازې ماته خلاصې کړه.

**له مسجد څخه د راوتلو دعا**

(۱۲) اللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ.صحيح مسلم

ای ربه ! زه له تا څخه ستا د مهربانۍ غوښتنه کوم.

**له اذان وروسته دعا**

(۱۳) اللّٰهُمَّ رَبَّ هَذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ، وَالصَّلاَةِ القَائِمَةِ، آتِ مُحَمَّداً الْوَسِيْلَةَ وَالْفَضِيْلَةَ، وَابْعَثْهُ مَقَاماً مَحْمُوْداً الَّذِيْ وَعَدْتَهُ، إِنَّكَ لاَ تُخْلِفُ الْمِيْعَادَ.صحيح البخاري

ای ربه !ددغې پوره بلنې او قایمیدونکي لمونځ پالونکیه ! محمد صلی الله علیه وسلم ته وسیله او فضیلت ورکړه او هغه ستایلی شوي ځای ته یې ولیږه چې چې تا یې وعده کړې ده بیشکه ته د وعدې مخالفت نه کوې.



**د ډوډۍ خوړلو دعا**

(۱۴)بِسْمِ اللهِ وَ عَلَى بَرَكَةِ اللهِ .

ژباړه: د الله جل جلاله په نوم شروع کوم، سره د برکت د الله جل جلاله.

**که د ډوډۍ منځ کې دعا در یاد شوه دا دعا ووایه**

(۱۵)بِسْمِ اللهِ فِيْ أَوَّلِهِ وَآخِرِهِ.سنن ابي داود

په پیل او پای کې د الله جل جلاله په نوم شروع کوم.

**له ډوډۍ خوړلو وروسته دعا**

(۱۶)الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي أَطْعَمَنَا وَسَقَانَا وَجَعَلَنَا مِنَ الْمُسْلِمِينَ.كنزالعمال.

ج۸ص۵۰.

ټولې ستاینې هغه الله لره دي چې موږ ته یې خوراک راکړ او موږ یې خړوب کړو او موږ یې له مسلمانانو څخه ګرځولي یو.

**له ډوډۍ خوړلو وروسته کوربه ته د میلمه دعا**

(۱۷)اللّٰهُمَّ أَطْعِمْ مَنْ أَطْعَمَنِي وأَسْقِ مَنْ سْقَانِي.صحيح مسلم ج۳ ص ۱۲۶.

ای الله جل جلاله ! چا چې ماته خوراک راکړ هغه ته خوراک ورکړه او چا چې ماته څښاک راکړ هغه ته څښاک ورکړه.

**د روژه ماتي دعا**

(۱۸)اللّٰهُمَّ لَكَ صُمْتُ وَعَلَى رِزْقِكَ أَفْطَرْتُ.سنن ابي داود

ای الله جل جلاله تالره مې روژه نیولې او ستا په روزۍ باندې یې مې ماته کړه.

**يا دا دعاووايه:** (۱۹)ذَهَبَ الظَّمَأُ وَابْتَلَّتِ الْعُرُوْقُ، وَثَبَتَ الْأَجْرُ إِنْ شَاءَ اللهُ.سنن ابي داود ج۲ص ۳۰۶.

ياني: تنده لاړه(ختمه شوه) رګونه خړوب شوه او كه د الله جل جلاله خوښه وي اجر ثابت شو.

## د شيدو له څښلو وروسته دعا

(۲۰)اللَّهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِيهِ، وَزِدْنَا مِنْهُ .سنن ابي داود ج۳ص۳۳۹.

الله تعالى! په دې كې موږ ته بركت واچوه او له دې څخه يې را ته زياتې كړه.

## د مريض د پوښتنې وخت كې هغه ته دعا

(۲۱)لاَ بَأْسَ طَهُوْرٌ إِنْ شَاءَ اللهُ. صحيح البخاري ج۱ص۱۷۵۲.

پروا نه كوي كه د خداى رضا وي د ګناهونو پاكونكې دې ده.

## د پرنجي دعا

(۲۲) الحَمْدُ لِلهِ ياني: ټولې ستاينې الله لره دي

كله چې پرنجى كوونكى دغه دعا ووايي نو اوريدونكى به ورته وايي(يَرْحَمُكَ اللهُ) ياني الله جل جلاله دې درباندې رحم وكړي. ددې په ځواب كې به ورته پرنجى كوونكى وايي: (يَهْدِيْكُمُ اللهُ وَيُصْلِحُ بَالَكُمْ) الله دې درته هدايت وكړي او ستاسې حالت دې اصلاح كړي صحيح البخاري ج۱ص۳۱۲۹.

## د نوې مياشتې د ليدلو وخت كې دعا

(۲۳)اللهُ أَكْبَرُ، اللَّهُمَّ أَهِلَّهُ عَلَيْنَا بِالْأَمْنِ وَالْإِيْمَانِ، وَالسَّلَامَةِ وَالْإِسْلَامِ، وَالتَّوْفِيْقِ لِمَا تُحِبُّ رَبَّنَا وَتَرْضَى، رَبُّنَا وَرَبُّكَ اللهُ.سنن الترمذي ج۵ص۵۰۶

ژباړه:الله لوى دى، يا الله ددغې مياشتې راختل زموږ لپاره د امن، ايمان، سلامتيا، اسلام او د هغه څه د توفيق سبب وګرځوې چې ته يې



زموږ ربه خوښوي او ته پرې راضي كيږې، (مياشتې!) زما او ستا رب الله دى.

## په شيشه كې د خان د كتلو وخت كې دعا

(۲۴)«الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي حَسَّنَ خَلْقِي وَخُلُقِي وَزَانَ مِنِّي مَا شَانَ مِنْ غَيْرِي». طبراني ج۱ ص۱۴۴.

ژباړه: ستاينه ده هغه الله لره چې زما پيدا ښت او زما اخلاق يې ښايسته پيدا كړي، ماته يې هغه څه زينت ګرځولي چې د نورو لپاره عيب دى.

## د مجلس د پاى دعا

(۲۵)سُبْحَانَكَ اللَّهُمَ وَبِحَمْدِكَ أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ.سنن ابى داود، ترمذي، نسايي.

ژباړه: پاكي ده تا لره اى ربه سره د ثنا ستا زه ګواهي وايم چې ستا نه پرته د عبادت لايق نشته او زه تا ته رجوع كوم.

## دښمن سره د مخ كيدو په وخت كې دعا

(۲۶)اللَّهُمَّ اسْتُرْ عَوْرَاتِنَا وَآمِنْ رَوْعَاتِنَا.مسند احمد بن حنبل ج۱۷ص۲۷.

ژباړه: يا الله جل جلاله زموږ عيبونه پټ كړه او زموږ ويره په امن بدله كړه.

## د خپلې روغتيا لپاره دعا

(۲۷)اللَّهُمَّ إِنِّيْ أَسْأَلُكَ الْعَفْوَ وَالْعَافِيَةَ فِيْ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ. سنن ترمذي ج 5 ص 524.

ژباړه:يا الله جل جلاله ! له تا څخه په دنيا او اخرت كې د صحت او سلامتيا سوال كوم.

### د باد لګېدلو په وخت کې دعا

(۲۸)اللَّهُمَّ إِنِّيْ أَسْأَلُكَ خَيْرَهَا وَخَيْرَ مَا فِيْهَا، وَخَيْرَ مَا أُرْسِلَتْ بِهِ، وَأَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّهَا وَشَرِّ مَا فِيْهَا، وَشَرِّ مَا أُرْسِلَتْ بِهِ. مسلم 616/2، والبخاري 76/4

ژباړه: یا الله جل جلاله زه له تا څخه ددې باد او د هغه څه چې په دې کې د هغوی د خیر غوښتنه کوم، او د هغه څه د خیر غوښتنه کوم چې دا باد ورته رالیږلی شوی دی، او په تا پورې پنا غواړم ددې باد له شر او د شر د هغه څه چې په دې باد کې دي او د هغه څه له شر څخه په تا پورې پنا غواړم چې دا باد ورته رالیږلی شوی دی.

### د باران د غوښتلو دعا

(۲۹)اللَّهُمَّ أَسْقِنَا غَيْثاً مُغِيْثاً مَرِيْئاً مَرِيْعاً، نَافِعاً غَيْرَ ضَارٍّ، عَاجِلاً غَيْرَ آجِلٍ. ابوداود 303/1

ژباړه: یا الله ! موږ ته باران راکړه چې د خیر او نجات سبب شي د خیر او برکت لرونکی وي، ګټور او بې ضرروه وي، ژر وریدونکی وي ځنډ کوونکی نه وي

### د باران ورېدلو وخت کې دعا

(۳۰)اللَّهُمَّ صَيِّباً نَافِعاً.صحيح البخاري ج ۲ ص ۱۳۸.

ژباړه:یا الله ! ډېر او ګټور باران راووروې.

### د باران له ورېدلو وروسته دعا

(۳۱)مُطِرْنَا بِفَضْلِ اللهِ وَرَحْمَتِهِ.البخاري 205/1، ومسلم 83/1.

ژباړه:د الله جل جلاله په فضل او رحمت په موږ باندې باران وشو.



### د قبر د زیارت دعا

(۳۲)«السَّلاَمُ عَلَيْكُمْ أَهْلَ الدِّيَارِ، مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُسْلِمِيْنَ، وَإِنَّا إِنْ شَاءَ اللهُ بِكُمْ لاَحِقُوْنَ [وَيَرْحَمُ اللهُ الْمُسْتَقْدِمِيْنَ مِنَّا وَالْمُسْتَأْخِرِيْنَ] أَسْأَلُ اللهَ لَنَا وَلَكُمُ الْعَافِيَةَ» مسلم2/671، اوابن ماجه الفاظ د ابن ماجه دي 494/1

ژباړه: سلام دې وي پرتاسې ای د کورونو خاوندانو چې مؤمنان او مسلمانان یاست، او ان شاء الله موږ به هم درسره پیوست شو(خدای دې زموږ په پخوانیو او وروستنیو رحم وکړي) له الله جل جلاله څخه ځان او تاسې ته د عافیت غوښتنه کوم.

### د مړي له خښولو وروسته دعا

(۳۳)اللَّهُمَّ اغْفِرْ لَهُ اللَّهُمَّ ثَبِّتْهُ. أبو داود 315/3

ژباړه:ای ربه ! ببښنه ورته وکړه او هغه (د نکیر او منکر د سوال په ځواب کې یې)ثابت قدم ولره !.

### په قبر کې د مړي د کېښودلو په وخت کې دعا

(۳۴)بِسْمِ اللهِ وَعَلَى سُنَّةِ رَسُوْلِ اللهِ.أبوداود ج 3ص314

ژباړه: د الله جل جلاله په نوم او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سنتو مطابق مړي په قبر کې ږدم.

### د باد لګېدلو په وخت کې دعا

(۳۵)اللَّهُمَّ إِنِّيْ أَسْأَلُكَ خَيْرَهَا، وَأَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّهَا.أبوداود ج4ص326

ژباړه: ای ربه ! زه له تا څخه ددې باد د خیر غوښتنه کوم، او له شر څخه یې په تا پورې پنا نیسم.

## یو چاته د واده د مبارکۍ په وخت کې دعا

(۳۶)بَارَكَ اللهُ لَكَ، وَبَارَكَ عَلَيْكَ، وَجَمَعَ بَيْنَـكُمَا فِيْ خَيْرٍ. ترمذي ج۱ص ۳۱۶

ژباړه: الله جل جلاله دې برکت او خير درکړي، او په تا دې برکت وکړي او ستاسې دواړو ترمنځ دې د خير يو ځای والي راولي.

## له خپلې میرمن سره د یوځای کیدو وړاندې دعا

(۳۷)بِسْمِ اللهِ، اللّٰهُمَّ جَنِّبْنَا الشَّيْطَانَ، وَجَنِّبِ الشَّيْطَانَ مَا رَزَقْتَنَا. متفق عليه

ژباړه: د الله په نوم، یا الله ! موږ له شيطان څخه لیرې ولره؛او شيطان له هغه څه لیرې ولره چې موږ ته دې راکړي دي.

## د غوسې په وخت کې دعا

(۳۸)أَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ.متفق عليه

ژباړه: له رټل شوي شيطان څخه په الله جل جلاله پورې پنا غواړم.

## د مجلس د کفارې دعا

(۳۹)سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ، أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُـوْبُ إِلَيْكَ.ترمذي ج۳ص۱۵۳

ژباړه: پاکي ده تالره یا الله سره د ثنا ستا ، زه ګواهي ورکوم چې نشته لایق د عبادت مګر ته یې، ستا څخه زه بښنه غواړم او تاته رجوع کوم.

## د قربانۍ د څاروي د حلالو په وخت کې دعا

(۴۰)بِسْمِ اللهِ وَاللهُ أَكْبَرُ [اللّٰهُمَّ مِنْكَ وَلَكَ] اللّٰهُمَّ تَقَبَّلْ مِنِّيْ.مسلم ج ۳ ص۱۵۵۷

ژباړه: د الله په نوم شروع کوم، او الله ډېر لوی دی [یا الله ستا له خوانه دی او ستا لپاره دی]یا الله ! زما څخه یې قبول کړه.



# شپږ کلمې

## لومړی کلمه طیبه

لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللهُ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللهِ.

## دویم د شهادت کلمه

أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّداً عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ.

## دریم د تمجید کلمه

سُبْحانَ اللهِ وَالحَمْدُ للهِ وَلاَ إِلَهَ إِلاَّ اللهُ، وَاللهُ أَكْبَرُ وَلاَ حَـوْلَ وَلاَ قُوَّةَ إِلاَّ بِاللهِ العَلِيِّ العَظِيمِ.

## څلورم د توحید کلمه

لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيْكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ يُحْيِيْ وَيُمِيْتُ وَهُوَ حَيٌّ لَا يَمُوتُ أَبَداً أَبَداً ذُو الجَلالِ والإِكرامِ بِيَدِهِ الخَيرِ وَهُوَعَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ.

## پنځم د استغفار کلمه

اَسْتَغْفِرُ اللهَ رَبِي مِنْ كِلِّ ذَنْبٍ أَذْنَبْتُهُ عَمْداً أو خطــأً سِــراً أو علانية، وأتوبُ إليه من الذنبِ الذي أعلمُ، ومِنَ الذنب الذي لا أعلمُ، إنَّكَ أنْتَ عَلاَّمُ الغيوبِ وســتَّارُ العُيــوبِ وغَفّــارُ الذُّنوبِ، وَلاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ إلاَّ باللهِ العَلِيِّ العَظِيمِ.

## شپږم د کفر د رد کلمه

اللّٰهُمَّ إنِّيْ أَعُوْذُ بِكَ مِنْ أَنْ أُشْرِكَ بِكَ شَيْأً وَأَنَــا أَعْلَــمُ بِــهِ وَأَسْتَغْفِرُكَ لِمَا لاَ أَعْلَمُ بِهِ تُبْتُ عَنْهُ وَتَبَــرَّأْتُ مِــنَ الْكُفْــرِ والشرْكِ وَالْغَيْبَةِ وَالْبِدْعَةِ وَالنَمِيْمَــةِ وَالْفَــوَاحِشِ وَالْبُهْتَــانِ وَالْمَعَاصِيْ كُلِهَا، وَأَسْلَمْتُ وَأَقُوْلُ لَا إِلَهَ إلاَ اللهُ مُحمدُ رَّسُوْلُ اللهِ.



# پینځلس سورتونه

## سورة العاديات

بسم الله الرحمن الرحيم

وَالْعَادِيَاتِ ضَبْحًا (1) فَالْمُورِيَاتِ قَدْحًا (2) فَالْمُغِيرَاتِ صُبْحًا (3) فَأَثَرْنَ بِهِ نَقْعًا (4) فَوَسَطْنَ بِهِ جَمْعًا (5) إِنَّ الْإِنْسَانَ لِرَبِّهِ لَكَنُودٌ (6) وَإِنَّهُ عَلَى ذَلِكَ لَشَهِيدٌ (7) وَإِنَّهُ لِحُبِّ الْخَيْرِ لَشَدِيدٌ (8) أَفَلَا يَعْلَمُ إِذَا بُعْثِرَ مَا فِي الْقُبُورِ (9) وَحُصِّلَ مَا فِي الصُّدُورِ (10) إِنَّ رَبَّهُمْ بِهِمْ يَوْمَئِذٍ لَخَبِيرٌ (11)

## سورة القارعة

بسم الله الرحمن الرحيم

الْقَارِعَةُ (1) مَا الْقَارِعَةُ (2) وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْقَارِعَةُ (3) يَوْمَ يَكُونُ النَّاسُ كَالْفَرَاشِ الْمَبْثُوثِ (4) وَتَكُونُ الْجِبَالُ كَالْعِهْنِ الْمَنْفُوشِ (5) فَأَمَّا مَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِينُهُ (6) فَهُوَ فِي عِيشَةٍ رَاضِيَةٍ (7) وَأَمَّا مَنْ خَفَّتْ مَوَازِينُهُ (8) فَأُمُّهُ هَاوِيَةٌ (9) وَمَا أَدْرَاكَ مَا هِيَهْ (10) نَارٌ حَامِيَةٌ (11)

## سورة التكاثر

بسم الله الرحمن الرحيم

أَلْهَاكُمُ التَّكَاثُرُ (1) حَتَّى زُرْتُمُ الْمَقَابِرَ (2) كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ (3) ثُمَّ كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ (4) كَلَّا لَوْ تَعْلَمُونَ عِلْمَ الْيَقِينِ (5) لَتَرَوُنَّ الْجَحِيمَ (6) ثُمَّ لَتَرَوُنَّهَا عَيْنَ الْيَقِينِ (7) ثُمَّ لَتُسْأَلُنَّ يَوْمَئِذٍ عَنِ النَّعِيمِ (8).

## سورة العصر

بسم الله الرحمن الرحيم

وَالْعَصْرِ (1) إِنَّ الْإِنْسَانَ لَفِي خُسْرٍ (2) إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ (3)

## سورة الهمزة

بسم الله الرحمن الرحيم

وَيْلٌ لِكُلِّ هُمَزَةٍ لُمَزَةٍ (1) الَّذِي جَمَعَ مَالًا وَعَدَّدَهُ (2) يَحْسَبُ أَنَّ مَالَهُ أَخْلَدَهُ (3) كَلَّا لَيُنْبَذَنَّ فِي الْحُطَمَةِ (4) وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْحُطَمَةُ (5) نَارُ اللَّهِ الْمُوقَدَةُ (6) الَّتِي تَطَّلِعُ عَلَى الْأَفْئِدَةِ (7) إِنَّهَا عَلَيْهِمْ مُؤْصَدَةٌ (8) فِي عَمَدٍ مُمَدَّدَةٍ (9)

## سورة الفيل

بسم الله الرحمن الرحيم

أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِأَصْحَابِ الْفِيلِ (1) أَلَمْ يَجْعَلْ كَيْدَهُمْ فِي تَضْلِيلٍ (2) وَأَرْسَلَ عَلَيْهِمْ طَيْرًا أَبَابِيلَ (3) تَرْمِيهِمْ بِحِجَارَةٍ مِنْ سِجِّيلٍ (4) فَجَعَلَهُمْ كَعَصْفٍ مَأْكُولٍ (5)

## سورة قريش

بسم الله الرحمن الرحيم

لِإِيلَافِ قُرَيْشٍ (1) إِيلَافِهِمْ رِحْلَةَ الشِّتَاءِ وَالصَّيْفِ (2) فَلْيَعْبُدُوا رَبَّ هَذَا الْبَيْتِ (3) الَّذِي أَطْعَمَهُمْ مِنْ جُوعٍ وَآمَنَهُمْ مِنْ خَوْفٍ (4)



## سورة الماعون

بسم الله الرحمن الرحيم

أَرَأَيْتَ الَّذِي يُكَذِّبُ بِالدِّينِ (1) فَذَلِكَ الَّذِي يَدُعُّ الْيَتِيمَ (2) وَلَا يَحُضُّ عَلَى طَعَامِ الْمِسْكِينِ (3) فَوَيْلٌ لِلْمُصَلِّينَ (4) الَّذِينَ هُمْ عَنْ صَلَاتِهِمْ سَاهُونَ (5) الَّذِينَ هُمْ يُرَاءُونَ (6) وَيَمْنَعُونَ الْمَاعُونَ (7)

## سورة الكوثر

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ(1) فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ (2) إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ (3)

## سورة الكافرون

بسم الله الرحمن الرحيم

قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ (1) لَا أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ (2) وَلَا أَنْتُمْ عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ (3) وَلَا أَنَا عَابِدٌ مَا عَبَدْتُمْ (4) وَلَا أَنْتُمْ عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ (5) لَكُمْ دِينُكُمْ وَلِيَ دِينِ (6)

## سورة النصر

بسم الله الرحمن الرحيم

إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ (1) وَرَأَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُونَ فِي دِينِ اللَّهِ أَفْوَاجًا (2) فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ إِنَّهُ كَانَ تَوَّابًا (3)

## سورة المسد

بسم الله الرحمن الرحيم

تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ (1) مَا أَغْنَى عَنْهُ مَالُهُ وَمَا كَسَبَ (2) سَيَصْلَى
نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ (3) وَامْرَأَتُهُ حَمَّالَةَ الْحَطَبِ (4) فِي جِيدِهَا حَبْلٌ مِنْ
مَسَدٍ (5)

## سورة الإخلاص

بسم الله الرحمن الرحيم

قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ (1) اللَّهُ الصَّمَدُ (2) لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ (3) وَلَمْ يَكُنْ لَهُ
كُفُوًا أَحَدٌ (4)

## سورة الفلق

بسم الله الرحمن الرحيم

قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ (1) مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ (2) وَمِنْ شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ
(3) وَمِنْ شَرِّ النَّفَّاثَاتِ فِي الْعُقَدِ (4) وَمِنْ شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ (5)

## سورة الناس

بسم الله الرحمن الرحيم

قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ (1) مَلِكِ النَّاسِ (2) إِلَٰهِ النَّاسِ (3) مِنْ شَرِّ
الْوَسْوَاسِ الْخَنَّاسِ (4) الَّذِي يُوَسْوِسُ فِي صُدُورِ النَّاسِ (5) مِنَ الْجِنَّةِ
وَالنَّاسِ (6).

.......................................................

صَدَقَ اللهُ الْعَظِيمُ.

آریان پښتو کتابتون
20 22
+971501455350
ARYAN PASHTO LIBRARY

پښتو PDF کتابونو لپاره موږ درسره وځارئ !
زموږ ټیلګرام چینل لینک 🌐📚👇
https://t.me/AryanPashtoLibrary
واتساپ نمبر:
00971501455350
زموږ فیسبوک پاڼه 👇
آریان پښتو کتابتون